کابل

پرله پسی گڼه ۵۱۴

علمي اجتماعي او ادبي

زمری (۱۳٤۱ش) کال د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹٦۲ کال جولای او اگست

شمېر لیکنه	لیکوال	مخ
۱ـ دامپراتوری او مسیحیت ترمنځ شخړې	م ـ احسان تره کی	۱
۲ ـ دلر غونی یونان مثبتې فلسفې	ظاهر افق	۱٦
۳ـ کاکا صاحب شیخ رحمکار	عبدالحی حبیبی	۲۱
٤ـ په پښتنی ادب کښې دښځو ذوق ...	ژواك	۲۷
٥ـ پښتانه لیکوال دنو رو په نظر کښې	دمعتمد شنواری ژباړه	۳٤
٦ـ رمانتسیزم	محمدصدیق روهی	٤٥
۷ـ یوهان ولف گنگ گوته	دشجاعی ژباړه	٤۹
۸ـ دپردیس سوغات	گل محمد نورزی	٦۳

امتیاز دپښتو ټولنی

مشر گل پاچا الفت

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

2006204653

م ـ احسان تره کی

دامپراتوری او مسیحیت ترمینځ شخړې

مقدمه :

(۱) ـ دامپرا تورانو او مسیحیت ترمنځ دلومړنیو اختلافونو جریان .

الف : د امپراتورانو لوړتیا او د مسیحیت کمزور تیا .

ب : دمسیحیت قدرت لاس ته راوستل او د مسیحی افکارو خپرول .

(۲) ـ دپاپانواو امپراتورانو ترمنځ دنویو اختلافونو درا پیدا کیدو عوامل

الف : د پاپانو اختیارات او قدرت .

ب : دهنر او ادب پر فلسفه باندی د کلیساد د کتورین تسلط .

ج : دلر غونی یونان اوروم د افکارو پیژندنه .

(۳) ـ دپاپانو تر منځ دتفرقـی پیدا کیدل اوله هغې څخه د امپراتورانو استفاده.

الف : دپاپانو په منځ کښې دتفرقې راتلل .

ب : دپاپانو اوامپراتو رانو تر منځ نوی اختلافونه .

۴ : نتیجه .

د امپراتورانو او مسیحیت ترمنځ شخړې

مقدمه : که چیرې د بشري ټولنو د اجتماعي روابطو پر واقعیت ژور نظر واچول شي معلومیږي چه د ټولنې اختلافونه او شخړې تل د بشریت د تاریخي تحول او تکامل په حلقه کښې د روښانه پیښو په شان څرګندې شوي دي . د دې شخړو په لړ کښې کولای شو چه د امپراتورانو او مذهبي ټولګیو ترمنځ هغه مجادلې چه د څورلسو پیړیو په ترڅ کښې د یوروپ په ملکو کښې د قدرت او سیادت د لاس ته راوستلو له پاره پیښې شوي دي یادې کړو . د دې له پاره چه د دا موضوع موږ ښه څیړلی وي لازمیږي چه د امپراتورانو او مسیحیت ترمنځ د لومړنیو شخړو په باب چه د عیسویت د ظهور په لومړنیو وختو کښې منځ ته راغلي دي یو مجمل شانته نظر واچوو او هم باید د راتلونکو پیړیو اجتماعي مشخصات چه د مسیحیت د قدرت او د مسیحي افکارو د نشر باعث شوي دي او ورپسې د پاپانو هغه مداخلې چه د امپراتورانو په اجتماعي او سیاسي کارونو کښې یې کړي او د امپراتورانو د ناخوښۍ سبب شوي دي یادې کړو . د اعوامل چه په نتیجه کښې یې د امپراتورانو قدرت او د خلکو بیداري منځ ته راوړه باید ترغور لاندې ونیول شي .

کله چه مو په دې مبحث کښې لومړي د امپراتورانو د عظمت او د پاپانو د کمزورۍ او بیا د مسیحي افکارو د نشر او د مسیحیت د قدرت د لاس ته راوستلو په باب خبرې وکړې نو هغه وخت به د لرغوني یونان او روم پر افکارو د خلکو پوهیدل ـ د پاپانو په منځ کښې د تفرقې پیدا کیدل او د امپراتورانو د قدرت د لاس ته راوستلو پر موضوع باندې خبرې کوو.

۱ـ دامپراتوری او مسیحیت دشخړولومړنی جریان :

الف : دامپراتورانو عظمت او د مسیحیت ضعف :

هغه وخت چه دروم امپراتوری خپل معراج ته رسیدلې وه ـ ایتالیا ـ یونان ـ کوچنی اسیا او مصر یې یوه یوه پراخه سیمه تشکیلوله چه تقریباً له (۵۰۰۰) ښارو څخه جوړه او د خلکو شمیر یې (۶۰) ملیونو ته رسیده . دروم ښار د دې امپراتوری پایتخت و . د (ق. م) له دوهم قرن څخه تر دریم میلادی قرن پورې د روم دامپراتوری دنهایی عظمت دوره ګڼلی کیږی او کله چه رومیان په لویدیځ کښې پر اسپانیه ـ ګول او بریتانیه باندې غالب او مسلط شول نو ددې منکو خلك د آدابو او رسومو له مخې لکه رومیان داسې شول ـ په لاتینی ژبه به یې خبرې کولې او بې له دې چه دوی دیونانیانو په ډله کښې وشمیرل شی بله ارزویی نه لرله ـ ولې بیاهم کله چه رومیان دیونان، د کوچنی اسیا، سوریې او مصر پر خلکو مسلط شول د رومیانو تر نفوذ لاندی راغلل ځکه چه د نوموړو یو ځایو خلك د رومیانو څخه لا پخوا متمدن او د تمدن سره اشنا وو ـ هغه خلك چه رومیانو ورڅخه زده کړه وکړه او ددې اختلاط او امتزاج څخه یې پوره ګټه یووړه ـ یونانیان وو. رښتیا هم کله چه رومیان د لومړی ځل له پاره دیونانیانو سره مخامخ شول د یونان د تمدن په نسبت نیمه متمدن ګڼل کیدل ځکه چه د یونانی سبك، شایسته ښاروا وښکلیوا بادیو، ادب، هنر، فلسفې او علم رومیان تر تاء ثیر لاندی راوستلی وو. همدا سبب و چه د یونانی اور ومی تمدن امتزاج او ګډون د یوه نوی تمدن د ظهور موجبات منځ ته راوړل .

لنډه داچه تر (۲۰۰م) پورې یونانی او رومی تمدن همهغه پخوانی عظمت اولوړ والی وساته اما وروسته له دې د روم امپراتوری په داخلی شخړ واو جنګو کښې و نښته او د جرمنیانو هجوم لاندې راغله ـ وروورود میلادی دریم قرن له شروع څخه

دنوموړی امپراتورۍ دزوال عوامل پیدااودا باعظمته امپراتوری داخلی جنګواو دشاهانو په منځ کښې اختلافونو تردې اندازې وربړ وله چه د(٥٠) کالو په مو ده کښې(٣٠) تنه امپرا توران دامپراتورۍ په تخت کښیناستل او بیا لرې شول. ولی خبره دلته ده چه داوګوستوس د باعظمته امپراتورۍ په وخت کښې حضرت عیسی پیدا شو او کله چه ددیرشو کالو په عمر شو د بې وزلو سر، به یې مرسته کوله - دناروغانوروغوالی به یې غوښت اوهمدارنګه به یې خلکو ته ګټورتعلیمات ورکول. حضرت عیسی دعبرا نیانو په منځ کښې دمسیحي افکارو دتیتولو په باب هڅه وکړه په دې وخت کښې عبرانیان هم دروم دامپراتورۍ جزء بلل کیدل.

دحضرت عیسی تعلیمات اولارښوونې چه دعدالت اوانصاف پربنسټ بناوې زورورو او قوی خلکونه خو ښولې . همداسبب وچه حضرت عیسی یې په مرګ محکوم او دمسیحیانو په عقیده په دارو ځړاوه اوورو سته له دې دده پیروانو چه حواریون نومیدل دده دژوند اومرګ څرنګوالی اوپیښې ولیکلې داهغه وخت دی چه مسیحی پیروانو مسیحی مذهب ته غاړی کښیښودې اوویې غوښتل چه دا مذهب دامپراتورۍ په هرګوټ کښی تیت او نشر کړی .

کله چه مسیحیت خلکو ته دفقرا وتواضع درس ورکاوه او دا دوې ښیګڼی چه په مسیحی مذهب کښې په پوره ټینګ اساس ولاړې وې دزورورواو امپراتورانو له خوښی سره مخالفی وې، همداسبب وچه په زرها وومسیحی خلك به یې د مسیحی مذهب دانتشار په ګناه ترشکنجې لاندې نیول امپراتورانو د خپلې امپراتورۍ په چاپیریال کښې مسیحی مذهب غیرقانونی اعلان کړ. البته سبب داو چه د روم حکومت مسیحی دین نه مانه اومسیحیانو به هم دامپراتورانو تفوق ته په کرکه کتل اوله امره څخه به یې سرکشی کوله. مسیحیانو به دا ناري وهلې چه زموږ طاعت

او پیروی یوازې خدای ته ده او بې د مسیحیت له آئین څخه بل څه ته اطاعت نه کوو.
همداسبب ؤچه امپراتورانو مسیحیان خیانت کوونکی تابعین و بلل او دوی به یې
ترشکنجی لاندی نیول داهم باید وویل شی چه په دی وخت کښې مسیحیت دومره
انکشاف نه وکړی اوله همدی سببه دامپراتورانو قدرت او د مسیحیت ضعف د مسیحیانو
دزجر او شکنجی موجب کیدل.

ب: د مسیحیت د قدرت اکتساب او د مسیحی افکارو خپریدل:

که څه هم امپراتورانو مسیحیان ډیر وربړول - بیاهم مسیحی دین ورو ورو په ټوله
امپراتوری کښې تیت او نشر شو. مخصوصاً په دریمه اوڅلورمه پیړی کښې چه د روم
دامپراتوری د تزلزل اوماتې دوره ده مسیحی دین مخ په انتشار او دامپراتوری هر
کوټ ته ورسید. د مثال په توګه په ۳۱۲م کال کښې ګالزیوس امپراتور د مسیحیت
د قبلو لو او منلو فرمان خپور کړ. همدارنګه د ده جای نشین کونستانتین مسیحی
دین قبول کړ او ورو سته له دې مسیحی دین په ډیره چټکتیا سره د اکثرو خلکو
دین شو. لکه چه د تیود سیسوس امپراتور په وخت کښې (۳۷۹ - ۳۵۹) مسیحیت
دامپراتور انو مذهب ګڼل کیده او نور ټول مذهبونه غیرقانونی اعلام شول. کلیسا وې
منظمې شوې او بی شماره دارایی او شتمنی یې لاس ته راوړې - د کلیسا
دامپراتوری حکومت یوه دستګاه جوړه شوه - د کلیسا د کار کوونکو د مذهبی او د نیوی
کارو په اداره کښې نظم او نسق پیدا شو.

۲ - دامپراتورانو او پاپا نو په منځ کښې د نو یو اختلافونو د ظهور عوامل:
لومړنی پنځمه مسیحی پیړی داسې عصر شمیر لای شو چه چه په دریواخیرو پیړیو کښې
یې مسیحیت سره له دې چه د روم دامپراتوری تر شکنجی او آزارلاندې وبیا هم ورو
ور وتیت او خپور شو د شپږ مې پیړی څخه تر یولسمی پیړی پورې د ارو پایانو په

افکا رو کښې کوم تحول نه لیدل کیږی ځکه چه د جرمنی مقدسه امپراتوری چه دروم دامپراتوری وارثه ګڼل کیده تر یولسمی پیړی پورې بې زمانی قدرت درلود اودپاپ مقام رو حانی قدرت لاره اماهغه دوره چه دیو لسمې او پنځلسمې پیړی ترمنځ واقعه و ه دتاریخی تحول له مخې په دوو برخو ویشل کیږی:

لـو مړ ی هغه دوره چه دیولسم قرن څخه تر دیار لسم قرن پورې دوام اری، پاپ خپل نهایی عظمت ته رسیدلی و. اودوهمه هغه دوره ده چه دلویدیځو هیوادونو شاهان دپاپ دقدرت په مقابل کښې ودریدل - اوهغه اختلا فونه چه د پاپانو او امپراتورانو په منځ کښې پیداشول - ځانته عوامل لری چه وروسته به بیان شی. او س دپا پا نو اوامپراتو رانو دنویو اختلا فونو دعوا ملو د ظهور په باره کښې خبر ې کوو اوورپسې دشاها نو اوامپراتورانو دقدرت اکتساب په اروپا کښې له نظره تیروو.

داختلافونو دراپیدا کیدلو عوامل په درو برخو ویشو:

الف - دپاپانو اختیارات او قدرت.

ب - د کلیساد دو کتورین تسلط پر فلسفه - هنراو ادبیاتو باندې.

ج - دلرغونی یونان اوروم دافکارو پیژندنه.

الف: دیارلسمه پیړی د کلیسا دپوخوالی اولوړ وا لی ښکار ندو یدده دد ې دیارلسو پیړیو په موده کښې مسیحی پیروانو اود کلیسا نمایند ګانو چه په مذهبی اساساتو یې تکیه کړی وه ورو ورویې قدر ت په لا س راوړاوپه دې لار کښې یې دخپل نفوذ آخیرنی مرحلې ددیارلسم قرن تر پا یه پور ې طی کړې.

ددې لارې لنډون چه ددیارلسم قرن تراخیره پورې دوام لری د کلیسادوروستی اواخیر ینی نفس سره تړلی وو نو که چیر ې په د ې با ره کښې ژور فکرو شی معلومیږی چه دتکامل داصل پر اساس هر دمرحله چه خپل معراج ته رسیږی ورپسې یې

نزولی دوره هم راځی او د نزولی مرحلې سره جوخته تړلې ده - دا واقعیت د دولت او کلیسا د شخړو او جګړو څخه په پوره وضاحت سره څرګندیدای شی لکه چه له پولسمی څخه تر دیارلسمی پیړی پورې پاچاهان د پاپا نو فرمان وړو نکی او منونکی وو. د مثال په ډول نهم لویس چه د فرانسې د دیارلسمی پیړی پاچا بلل کیږی د کاتولیك مذهب سره یې ډیره علاقه درلوده او یو لوی متعبد او متمسك پاچاو چه د پاپ له مقام سره یې د زړه له کومې مینه لرله. نور پاچاهان چه د پاپ له مقام سره مخالف وو او د دوی له امر و څخه یې سرغړاوه مغلوب او د ماتې سره مخامخ شول او د پاپ له مقام څخه یې ښښنه وغوښته او ځینی نور یې لکه د جرمنی پاچاهان، د پولسمې پیړی څلورم هانری - د دولسمې پیړی سور زیری او مړی فریدریك او د دیارلسمې پیړی په لومړی سرکښې دوهم فریدریك چه د پاپ له اطاعته یې سرکښې وکړه د پاپ له خوا تکفیر شول او یا یې ښښنه ورځنې وغوښته.

هغه مسیحیون چه د روم د امپراتوری د اقتدار په وخت کښې یې داسې غوښتنه کوله چه. «امپراتور باید د روحانی او زمانی قدرت ترمنځ توافق ایجاد کړی» لیکن په دې دوره کښې چه پاپ د لوی نفوذ څښتن و - تل به یې د روحانی قدرت د غلبې او تفوق په باب خبرې کولې او د زمانی قدرت څخه به یې ستر ګې پټولې په دې پیړی کښې پاپ له پاچا څخه ډیر زور ور او د قدرت خاوند و - واقعاً چه په دې وخت کښې کلیسا هم د دولت او هم کلیسا تلقی کیده او منتها قدرت یې لاس ته راوستلی ؤ د کلیسا اقتدار دې اندازې ته رسیدلی وچه کلیسا د یوه بین المللی دولت حیثیت درلود، او د مسیحیت پر جامعه یې حکمروایی کوله پاپ په ټولو مسیحی ملکو کښې نمایندګان درلودل او په هر ملك کښې یې د خپل جبری اقتدار څخه استفاده کوله او هغه به یې په سیاسی او اجتماعی کارو کښې پر مسیحیو نو تحمیلولو.

په دیارلسم قرن کښې مسیحی خلکو نشو ای کولای چه د کلیسا دتا بعیت څخه سروغړوی او که به یې سر غړولو نوسمد لاسه به د تکفیر حکم پرې کیده او د ټولو مدنی حقوقو څخه به محرومیدل دا ځکه چه د کلیسا ددو کتورینو نافرمانی ددولت دقوانینو اومقرراتو څخه نافرمانی وه ځکه چه د کلیسا د دو کتورینو اطاعت نه کول په حقیقت کښې ددولت دقوانینو اومقرراتو څخه نافرمانی تلقی کیده - پاپ د کار دینالوله ټولنې څخه انتخابیده اومغه مطرانیان چه د اساقفه و پر مربوطه منطقه به یې ریاست کاوه د پاپ تر فرمان لاندې وو او د اټول مذهبی روحانیون لکه. پاپ. مطرانیان. کاردینالان ـ اساقفه او کشیشان دمدنی حقوقو له تسلط څخه خارج شمیرل کیدل اودنوموړیو مقرراتو تابع نه وو او کلیسا خصوصاً په لاندې مواردو کښې دخپلو اختیاراتو څخه کار اخیست :

۱ـ کلیسا دخپل ملکیت اوشتو، اداره کوله او پر خلکو باندې یې مالیې وضع کولې .

۲ـ ددې له پاره چه کلیسا پر کارونو باندې قضاوت و کړی ځانته یې محکمې درلودلې اودهغې له مخې به یې په کارونو باندې قضاوت کاوه.

۳ ـ کلیسا دښوونی اوروزنی کارونه هم تر نظارت لاندې نیولی وو او مذهبی عقیده به یې دتعلیم او تدریس له لارې په خلکو کښې تلقین کوله .

٤ـ کلیسا هغو خلکو ته چه کومه ګناه به یې کړی وه او یا به د کوم کارد کولو په سبب مجرم ګڼل کیدل دبښښې لیکونه به یې ورباندې خرڅول.

دپورتنیو شرایطو په ترڅ کښې دا څرګندیږی چه دهغې وخت د دولت اختیارات ډیر محدود او نیمګړی وو او په ډیر وموارد و کښې به کلیسا په سیاسی او اجتماعی کارونو کښې دیوه لار ښوونکی په حیث مداخله کوله لکه چه د

کلیسا ارتې مځکې اووسیع ملکیت چه د کلیسا دقدرت مظاهر وو- د هر ډول مالیې څخه معاف أو په مقابل کښې به یې د ټولو مځکو لر و نکو څخه مالیې اخیستلې .

همدار نګه به که چاد کلیساله ساحې او قدرت سره څه ار تباط پیدا کاوه مجرم به ګڼل کیده او د کلیسایی محکموله خوا به ورځنې پوښتنې کیدې او مواخذه کیده به. په تعلیمی ساحه کښې به هم کلیسا یی د و کتو رین تلقین کیدل او خلکو نشوای کولای چه له مذهبی حدودو په هاخواخه فکر و کړی او یا داچه دهغو شیانو په باب خپل نظر څرګند کړی .

سربیره پر دې چه کلیسا ځان دحضرت مسیح قایم مقام باله- مجرمینو او ګناهګارا نوته به یې بښنلیکو نه هم ور کول او د هغو په بدل کښې به یې زښتې ډیرې پیسې ورځنې لاس ته کولې .

د بښنلیکو څخه مقصد داو چه ګناهونه کفاره کوی او دمجرم جرم وربانديې بښل کیږی - همدار نګه بښنلیك جنت ته دورتګ له پاره یوه وسیله وه .

کلیسانه یوازې داچه خپل قدرت او نفوذیې په هرځای کښې خپوړ کړی و بلکه دپاچا دخلع کولو د عوې یې هم کوله او ځان یې ددې امر مستحق ګاڼه . کلیسا داهم کولای شول چه د شاه په مقابل کښې د خلکو دوفاداری لوړه له منځه یوسی .

د دې خبرو داثبات له پاره دمثال په ډول دالمان قوی اومقتدر پاچا څلورم هانری یاد وواو دده هغه مخالفت ته ګوته نیسو چه یې د پاپ په مقابل کښې کړی دی- څلورم هانری کله چه دپاپ سره مخالف شو نو د کلیسا دعتاب او غضب لاندې راغی او مجبور شو چه ډیر ساعتو نه د« کانوسا » قطعې د دروازې

شاته په واوره کښې ودریږی تر څو چه د اووم ګر یګو ری پاپ ضره دسولې له لارې وړاندې راشی همدا رنګه نور پا چا هان لکه جو نJean دانګلستان پاچا تعهدو کړچه دهغې وخت دریم اینوسان پاپ ته په کال (۱۰۰۰) مار که باج ور کړی .

ب-پرهنر-فلسفه اوادب باندې دکلیسا دد وکتور ینو تسلط:

په دیارلسمه پیړی کښې فلسفې دمذهب خاصه لاره تعقیبوله او هیڅ فلسفی عقیدې نشوای کولای چه دمذهب داساسا توله دایر ې څخه ووزی همدار نګه داسې عقاید دعیسوی پوهانو په اثار و کښې لیدل کیږی چه د سکـولا ستیك له طرز تفکره څخه یې استفاده کـوله او پر هغې لارې روان وو. ددې دورې ادبیات زیاتره په لاتینی ژبه رواج اوپه نورو اروپایی ژبولـکه فرانسوی- انګلیسی - المانی او نورو کښې یې لزاثار لیدل کیدل. دهنر-معماری او نقاشی تمایل هم داوچه ښکلی- بهترینې اوښې نقاشی او معماری د کلیسا ګانو په جوړولو کښې څرګندې کړی-یعنی داچه معماری اونقاشی هم د کلیسا په خدمت پورې تړلی وې. لا تینی ژبه د کلیسا ژبه وه اوخلك مجبور وو چه په همد ې ژ به درس زده کړی اوهمد ارنګه ټول کتابونه هم په لاتینی ژ به کښل شوی وو . داعو امل باعث شو ل .چه ټـول مسیـحی خلـك پـه ایوه عیسـو ی ټو لنه کښې سـره یواو متحدشی .

ج- دلر غونی یونان اوروم دافکاروپیژ ند نه :

دابايد په نظر کښې ونیول شی چه ځینی مئوثر عوامل موجود وو چه د کلیسا قدرت یې لهمنځه یووړ اوداسې موجبات منځ ته راغلل چه د کلیسا پخوانی برم ته یې یوه سخته ضربه ور کړه ترڅوچه د کلیسایی تمدن و حد ت او هم رنګی یې دنابو دی سره مخامخ کړ. ددې عواملو له جملې نه لو مړی دا چه د خلکو

پیژند ګلوی اومعرفت دلرغونی یـونان او روم دا فکارو ادب او رسو مو سره ورځ په ورځ زیاتیده. دوهم دا چه دلا تینی ژبو پر ځای به یی د خپلو ملی ژبو څخه کار اخیست اودا جریان به یې ورځ په ورځ مخ په وړاندی بیوه.

دریم عامل چه دپور تنیو دوو عوا ملو څخه غو ره ګڼل کیږ ی هغه داو چه دولت دقدرت خاوند اوو یې غوښتل چه د کلیسا هغه نفوذ چه دخلکوپه کارونو یې نظارت لاره له بیخه وباسی.

۳ـ دپاپا نوپه منځ کښې دګډوډی اوتفرقی پیدا کیدل اوله هغی څخه دشاها نو استفاده:

الف ـ دپاپانو په منځ کښې دبی اتفاقی پیدا کیدل:

که د کلیسا داقتدار اوقدرت لهمخی ځیرشونوڅر ګند یږی چه په څوارلسم اوپنځلسم قرن کښې ډیرې واقعې پیښې شوی دی. ددی پیښو څخه یوه داده چه دپاپانوپه مینځ کښې اختلا فونه پیدا شول او په نتیجه کښې کلیسا دد وو لویو پاپانو په منځ کښې وویشل شوه. لکه چه په ۱۳۰۹ کا ل کښې د پنځم کلمات چه اصلافرا نسوی واو دلویو پاپانو لهډلې څخه شمیرل کیده په او نیون کښې چه دفرانسې خاورې ته نژدې دی ژوند کاوه ـ دې پاپ لهروم څخه خپله علاقه، وشلوله او دفرانسې په ورځرمه سیمو کښې او سیده ـ نور پاپان هم مو جود وو چه له روم څخه یې خپله علاقه قطع او تر (۷۰) کالو پور ې یې په او نیون کښې خپله استوګنه غوره کړه. په ۱۳۷۲ کال پاپ ګریو ګوری بیا و غو ښتل چه روم ته بیرته ولاړشی ـ برسیره پردې ددې مقام لهپاره دیوهپاپ د ا نتخابولو پر مساءلهدپاپانواختلافونه تازه شول او کارد ینالا نو هغهپاپ چه څلورم اوربان نومیده تر سانسور اوغندنې لاندې ونیواوخلع یی کړاوپرځای یی اووم اوربان

انتخاب کړ. اووم او ربان په روم کښې اوسیده اوپه اونیون کښې یو بل پاپ د کلیسا پرمسند ناست ودې دواړو به دیوه بل پرضد تبلیغات کول اوهر یوه به ځان د حضرت مسیح قایم مقام اود کلیسا حقیقی سرپرست گانه .

ب ـ دپاپانو او پاچاهانو په منځ کښې دبیا اختلاف راپیدا کیدل :

اروپا یی حکومتونو د پاپانو دا ختلا ف څخه داستفادې په ترڅ کښې داسې پالیسی غوره کړی وه چه کله به دیوه پاپ سره او کله به یې دبل پاپ سره علاقه څرګند وله اوله دې موقعیت څخه به یې په زړه پورې نتیجې لاس ته راوړې . دمثال په ډول : دانگلستان او اتریش حکومتونودروم دپاپانوسره خپله وفادارۍ اعلا م کړه اوهمدارنگه فرانسه اوهسپانیه داونیون دپاپ پرخوا شول . نتیجه دا شوه چه له یوې خوا دپاپانواوامپراتورانو په منځ کښې شخړې منځ ته راغلې اوله بلې خواد مذهبی ډلو په منځ کښې دبی اتفاقۍ اورونه بل شول . کله چه دجرمنی شاهانو اوامپراتور قدرت زیات شونود کلیسا اوددولت دطرفدارانو ترمنځ سختې شخړې -جاری شوې . ځکه کله چه جرمنی پاچاهان مقتدر شول اوقدرت یی لاس ته راوړنو یې وکولای شول چه دایتالیا دپاپانو له نفوذه څخه ورو ورو ځانونه خلاص کړی ـ همدارنگه یو بل مثال هم دفرانس پاچا فلیپ لوبل په باب ویلای شواو هغه دا چه فلیپ لوبل د څوا رلسمې پیړۍ په سر کښې دخپل وخت دپا پ (یونیفاس) په مقابل کښې په مخالفت ګوتې پورې کړی او هغه لوی لوی کسان اودحقوقو پوهان یې چه دده په چاپیر بال کښې یې ژوند کاوه راوبلل اویومجلس یې منعقد کړ. فلیپ لوبل اعلان وکړچه څښتن تعالی پخواله هغه چه کلیسائیان جهان ته راشی پاچاهانو ته قدرت وربښلی دی او پاچاهان باید بې له خدایه دبل چاڅخه ونه ډارشی . دفرانسې پاچابه په همدې ډول دپاپانو اودجرمنی دمقدسې

امپرا توری څخه خپله ازادی اعلان کړه .

دپاپانو اوپاچاهانو په منځ کښې شخړې اومناقشې دد ې سبب شو ې چه ځینې پوهان دمذهب په باب فکرو کړی اود مباحثو په ترڅ کښې مذهبی حقایق وپلټی. همدارنګه داچه د Humanism پوهانو په دې باره کښې څه اثار کښلی اوخپاره کړی دی ـ دنوموړی عصر اوزمانې دمشخصاتو مظاهردی . دې پوهانود لرغونی یونان اوروم دفلسفې په شاوخوا او همدارنګه دهغې زمانې دادب او هنر په باب کښې ژورې څیړنی کړی دی ـ دمذهب تنګه ساحه یې دخپلو افکارو دجولان په مقابل کښې له منځه یوړه ـ د فلسفې ـ هنر اوادبیا تو لمن یې پرا خه کړه اوپه زړه پورې انکشاف یې ور کړ. داپلټنې چه ددین، فلسفې، هنراوادب په چاپیر یال کښې وشوې په حقیقت کښې یې دریفورم اورنسانس دپرمختګ تخم وښینده چه په وروستیو کالو یعنی په شپاړسم قرن کښې یې وده کړ ې ده .

نتیجه :

په دې جریاناتو کښې داجتماعی فلسفې له نظره درې ټکی د کتنې او تبصر ې وړ دی :

(۱)ـ هغه استناد چه دد ې عصر متفکر ینو دمسیحی وینا پراتکأ باندې کاوه . د Laícity اصل استناد دمذهب څخه دسیاست بیلوا ـ پیش بینی کوی.

(۲)ـ بله یا دونه داده چه داروپایی ټولنې په منځ کښې یوفکری تحول اوبدلون را غی اودا حقیقت داګوست کو نت د فلسفې اسا ساتو پدتر څ کښې په پو ره ډول څر ګند یږی .

(۳)ـ همدار نګه دتاریخی مادیت له مخی نوی ارو پایی ټولنې دډیرو مذهبی اوسیاسی شخړو اوالو ګولو څخه وروسته دخپل ځان په ګڼه ددې عصرد (تیز)

او (انتی تیز) نه (سنتیز) جوړ کړاوه کارونو اداره یې خپل لاس ته راوسته .

١- کولای شو چه لومړنی اساس ددې عصر دمتفکرینو په څېړنو کښې چه د مسیح پروینا وو یې کړی دی ځانته معلوم کړو لکه- څنګه چه په انجیل کښې را غلی دی. یوه ورځ ځینی جاسوسان اومنافقان حضرت مسیح ته ورغلل اوغوښتل یې چه دقیصر سره یې په شخړه اخته کړی نو یې ورته وویل «هر کله چه ته رښتینی اود حق په لاره تلونی یې - نو ووایه چه قیصر ته مالیې ورکول روادی ؟»

حضرت مسیح هم ددوی فساد ته ځیرو اوورته ویې ویل :«مالیه راښکاره کړی ؟» کله یې چه مالیه ورښکاره کړه نو یې پوښتنه ورځنې وکړه :«دا تصویر اودا لیکنه دچاده ؟» ځواب یې ورکړ :«دقیصر».

حضرت مسیح ویل : « هغه څه چه د قیصر دی قیصر ته او هغه څه چه دخدای (ج) دی خدای ته یې اداء کړی » دمسیحی دین مفسرین وایی چه حضرت مسیح غوښتل چه ددې وینا په وسیله دین له سیاست څخه بیل کړی اوروحانی قدرت دزمانی قدرت څخه جدا کاندی . ولې بله ډله یو ازې په دې عقیده وو چه د حضرت مسیح وینا صرف دقیصر دمخبرانو له پاره ځواب و، اوبس . اما په هر حال دحضرت مسیح له وینا څخه ددین اوسیاست تفکیک څرګندیدلای شی اویا داچه Laicity اصل ورځنې استنباط کیږی.

(٢)- همدارنګه لکه څنګه چه اوګوست کونت متعقد دی دفکری تکامل ایجابات یشردې ته مجبوروی چه دمذهبی واهیاتوله حصار څخه ځانونه پر څنګ کړی اودو اقعا توپه تحلیل اوتجزیه کښې پر فلسفی اساسونو اتکاء وکړی او طبیعی پیښې هغسې مطالعه کړی لکه څنګه چه تعقل حکم کوی نه داچه دمذهبی ایده ال پر بنایې تفسیر کاندی .داروپادغه دوره دالهیت له مرحلې څخه دمیتافزیک یافلسفې مرحلې ته دبشری فکر دتحول یوه روښانه دوره ده .لکه څنګه چه له دغې دورې

وروسته ورو ورو درفورم اورنسا نس مر حلې دمذهب علم-ادب او هنر په‌سا حو کښې منځ ته‌راغلې اوور پسې اوه لسمه اواتلسمه پیړۍ دادب اوفلسفې دنهضت او پرمختګ دوره ده‌تردې چه‌داروپاپوهان اتلسمه پیړۍ دفلسفې پیړۍ بولی. نولسمه پیړۍ یوبل‌تحول منځ‌ته راولی چه‌هغه‌د علمی مر حلې په‌لو رې د انسا نی فکر د پرمختګ‌موئد ګڼل کیږی لکه څرنګه‌چه‌اوګوست کونت دغه‌حقیقت پخپل اثر «مثبته‌فلسفه» کښې څرګند کړی دی اوویلی یې‌دی‌چه نور نودې ته‌اړه نشته‌چه طبیعی پیښې‌دمذهبی یافلسفې ایډه‌ال سره‌سم وڅیړو بلکه‌لازمه‌ده چه پرهغو علمی څیړنې اواستد لال‌و کړواودواقعاتو په تحلیل اوتجزیه کښې «لکه‌څنګه چه‌دی» زیارو باسواودڅیړنې او پلټنې په‌وخت کښې‌پر تجر به اوعمل باندې‌تکیه و کړو.

(۳)-همدارنګه له‌پورتنیو کتنوڅخه دې نتیجې ته‌رسیزو چه دبشر ی ټولنو دخصوصیت له‌مخی شخړې او اختلافونه دتاریخ دسیر په ټولو حیاتی ساحو کښې لیدل کیږی چه دغه شخړې دژوند دتاریخی تکا مل دجریان بنسټ زدی. لیکن دغه‌جګړې همیشه په‌مختلفو ښوښکاره شوی‌اودوخت له‌غوښتنو څخه‌رنګ اخلی اماله دغوشخړوڅخه چه تل دوام کوی-یوه‌طبقه‌دتنازع دجریاناتود تر کیبوونکی په‌حیث‌د ټولنی‌واګی‌په‌لاس کښې‌اخلی‌له‌دغه (تیز) اوهغه (انتی تیز) څخه (سنتیز) جوړوی لکه‌څرنګه‌چه‌ددغوشخړوپه‌نتیجه کښې چه‌په څورلسمې‌اوپنځلسمې‌پیړۍ کښې‌دقدرت اوسیادت دلاس‌ته راوستلو دپاره د پا چاهانو اورو حا نیو نوتر منځ روانې وی -موقعیت دهغو دتر کیب‌وخت د(بورژوازی) طبقی‌لاس ته‌سپا رلې و او هغوی ته‌یې امکا ن ور کړ چه کلو نه کلو نه داروپاد اقتصاد اوسیاست پر ساحه باندې تسلط ومو می.

ظاهر افق

دلرغونی یونان مثبتي فلسفي

په دې مقاله کښې زمامقصد دانه دی چه دزاړه یونان پر ټولو فلسفو باندې وزغیږم. اوهر چا چه هر څه ویلی دی رانقل کړم. بلکه یواځې پرهغو فلسفو باندې بحث کوم چه هم ترسقراط دمخه اوهم دنن ورځې دمثبتي فلسفې پهغیږ کښې ژوندی پر تې دی - د هغو له جملې څخه یوه یې د « تغییر » او بله یې د«اټوم»فلسفه ده چه ترډیره حده پورې صحیح معلومیږی. دتغییر فلسفه په خورا ښکاره ډول سره دهرا کلیت (۱) لهخواځیرل سوی اوښی در ستې نظریې یې وړاندې کړی دی. امادا«اټوم» مفکوره د«دیمو کریت » (۲) پهخبرو او فلسفه کښې دورایه ښکاره ده. اوس نوددې لهپاره چهپه دغو دواړو فلسفوښه وپوهیږو لازمه دهچه هم یې دفیلسوفانود ژونده څخه اوهم یې پرمفکورو باندې څه نهڅه ووایو .

هرا کلیت: هرا کلیت چهدزاړه یونان دخورا پخواو مشهورو فیلسوفانو څخه دی دافیس (۳) پهسیمه کښې په کال (٥٠٤ق.م) زیږیدلی (٤) اودخپل وخت پراکثره افکارو باندې یې زیات زیات انتقادونه کړی دی .

Ephese (۳) Democritus (۲) Heraclites (۱)

(٤) فلسفهٔ کهن یونان دورهٔ پیش ازسقراط(۱۸مخ)

دده په عقیده ټول کائنات حرکت کوی اوپه دې سره قانع دی چه ټول موجودات د«تغییر» پهحال کښې دی کهڅههم ده پهډیرونورو موضوعاتو کښې ډولډول خبرې کړی اوځینو فیلسوفانوبې پر بیانونو باندې انتقادونه کړی دی خو بیاهم په زاړه یونان کښې دخپلې زمانې یو داسې ځلا نده لمرو چه پخپلو روښانه وړانګو سرهیې ډیر ځایونه روښانه کړل.

ده داضدادوپه فلسفه کښې هم خبرې کړیاووایی چهد ټول عمومی کشمکش علتاواساس اضداددی-هغهاضداد چهپهواسطهسرهبې هرڅهپیدا کیږیاو ور کیږی.

دی دیوه ژوند دبل مرګ- اودبل مرګ د نورو دژونده څخه عبارت بولی په طبیعت کښیدغه مرګ او ژوند سره یو شانته دی ، کوم فرق نه لری اما صرف دنسبت خبره پکښې ځائیدای شی چهګوا کې دده پهافکارو کښې دنسبیتفلسفه (چهاینشتا ین په شلمه میلادی پیړی کښې پهواضح او علمی ډول خبرې پکښې کړیدی)هممضمره ده. لکهچهوایی «دیوهروده څخهدوه واره.څوك نشیتیریدای » ځکه چهرودپه دوهمه پلا کښې هغه خپلپخوانی شکلنشیساتلای او بالکلتغییر خوریيعنیهغهرود چهد کومو څپو-خاشو- اوبو اونورو موادوڅخهجوړو پهدوهموار کښې هغه خپل خصوصیات د لاسهور کوی. دغهډول خبرې دده دتغییر په فلسفه پورې همتینګه اړه لری .

کهڅه هم دده فلسفی مکتب ماټریالیزم دی اما (بهاءالدین پازار ګاد) دی یوداسې ایډیالیست بولی چهومتافزیك تهیې غاړه ایښی وی- لکه د(تاریخ فلسفه های سیاسی) پهحاشیه کښې چهوایی : «.... دی یو دماوراء الطبیعه او لومړنیو متافزیكفیلسوفانو څخهدی»(۱) کهڅههمدهراکلیت دنورو فلسفیانکتوڅخه دده

(۱) تاریخ فلسفهٔ سیاسی جلد اول (۷۳ مخ)

ماتریالیزم ښکاره بریښی اما (فریدون- کار) هم دانګلز دخولې څخه وایی :

«.....ددې مادی فیلسوف پیژندنه نه یواځې دخپل وخت عالی فلسفه ښیی بلکه اوس یې هم په ډیرو فلسفی اومنطقی مسألو کښې خپل پخوانی قدر او عزت ساتلی دی.» (۱)

ددې خبرو څخه نو موږ په ښکاره ډول سره داو یلای سوچه هراکلیت ماتریالیست وو.

دهراکلیت د «تغییر» فلسفه:

په ننني ساینس کښې داراته ثابته ده چه «دتغییر فلسفه تغییر نه کوی» یعنی هرڅه دپخوا څخه بیا تراوسه اوداوسه څخه بیاتر بی نهایته پورې تغییر خوری چه ګواکی دغه دتغییر اوتبدیل فلسفه تغییر نه مومی.

دغه دتغییر فلسفه چه موږ نن ورځ پکښې ګډ یو- دخورا پخوا څخه پوهانو خبری پکښې کړی او او دائې ویلی دی چه هرڅه تغییرخوری مثلاً دخورا نامتو فیلسوفانو څخه یې هراکلیت دی چه وائی موږ هیڅکله دشیانو ماهیت او اصلیت نشو معلومولای بلکه یواځې داجسامو تغییردی چه زموږ ستر ګوته رارسیږی. ځکه چه ټوله شیان په حرکت کښې دی اوټوله شیان په ټولوشیانو سره بدلیدای شی- ټوله شیان پخپله ټوله شیان دی (۲)

انګلز دد غې فلسفې په تحلیل کښې داسې وایی: «هغه وخت چه طبیعت، دبشر تاریخ او ذهنی فعالیتونه په خورا غور سره مطالعه کړونو په اول وارسره یوداسې تړون را ښکاره کیږی چه دبیلو بیلو روابطو اومتقابلو تأثیراتو څخه نکل کوی.

(۱) فلسفهٔ کهن یونان دورهٔ پیش از سقراط. مؤلف فریدون کار (۲۰مخ)

(۲) فلسفه کهن یونان ... (۲۰مخ)

نوټول هغه شیان چه په دې ټون کښې زموږ و نظرته راړ سیږی بې تغیره او بې حرکته نه دی بلکه ټوله دحرکت او تغییر په حالت، همداسې دور کیدو او پیدا کیدو په شکل سره ښکاره کیږی دغه ابتدایی او خورا ساده فکر چه دجهان په باره کښې وړاندې شوی دی درست او صحیح معلومیږی چه دزاړه یونان داصلی خصوصیتو څخه یوه مهم خصوصیت دی او دلومړی ځل دپاره هرا کلیت دامفهوم په لاندې ډول په خورا وضاحت بیان کړی دی ټول شیان په عین حال کښې هم وجود لری او هم و جود نه لری- دا ځکه چه ټوله شیان په جریان او حرکت کښې دی- ټوله شیان دائمی تغیر کوی همداسې ټوله شیان یو په بل پسې د موجود کیدو اوور کیدو په حال کښې دی. (۲)

دهرا کلیت داډول فلسفه نه یواځې دخپلې زمانې ځراغ و بلکه نن او سباهم ډیرې تیارې په روښانه کیدای شی.

دی اور دټولو شیانو اساس اولومړنی ماده ټا کی او دغه اور دیوه داسې خالق په حیث پیژنی چه دټولو نورو اجسامو پیدا کوونکی اودحرکت مهم عامل هم دی.

دی پخپل یوه کتاب «دطبیعت په باب» کښې لیکی:

«اورچه خپل شکل ته تغیر ورکړی په خاوره- هوا په اور- او به په هوا - اوخاوره په او بوسره بدلیږی» کوا کې دلته دده مقصد دادی چه ووایی ټوله شیان دحرکت په وخت کښې تغیر کوی او په خپل ضد سره بدلیږی.

ده دخپل وخت خدایا نوته عقیده نه در لوده او پر طبیعی قوا نینویې ایمان در لود.

لینن دده فلسفه دماټریالیزم ډیالکتیك دقوانینو یوه ښه منظره بللی ده.

---

(۲) ANTI'DUHRING فریدریك انگلز (۳۳مخ)

ماټریالیزم ډیالکټیك چه دماټریالیزم دمکتب یومترقی شکل دی دخپل ځانه ځینی خصوصیتونه لری چه ښایی په جلاډول وڅیړل شی. په هر صورت دهر اکلیت مثبته فلسفه نه یواځې دخپلې زمانې مهمه نکته وه بلکه دنن ورځې په ساینس کښې هم خورا ډیر قدرلری،

پرده باندې هرچاهرڅه لیکلی دی. او دده دژوند ځینی ترخه اړخونه یې هم بیان کړی دی.

ده به دهرچاسره نه وه جوړه نود تاریخ بیانو ونکو دبدبین Pessimist په نامه یاد کړی دی.

دده کتاب «دطبیعت په باره کښی» دخپل وخت یوخورا جامع کتاب وولهبده مرغه دده ټولې لیکنې موږته نه دی رارسیدلی. څه چه رارسیدلی دی په هغه کښې یې خورالوړه فلسفه ښکاره ده.

دی وروسته له ډیر زحمت او خوارۍ څخه مړسو اوخپلې ځینی مثبتې فلسفی نکتې یې موږته را پریښوولی دی.

(نوربیا)

عبدالحی حبیبی

کاکاصاحب شیخ رحمکار

داورنگ مغولی پاچاپه عصر کښې دپښتو نخوا په‌سیمو کښې هر ې خو ا ته د دپښتنو دآزادیخواهی حر کات‌رو ان وه. که‌په‌دې ملی‌غورځنګو نو کښې‌ډ پر و مشهورو سردارانو اومشرانو دپښتنو رهنمائی کوله .نورو حانی مشران او ستانه هم‌په‌دغوحر کاتو کښې بې‌برخی نه‌وه،هغو که پرمیدان تور ی ځلولې. نود غو به‌له‌خپلی خانقاه‌څخه دآزادی دجنګ ډګرته سر تېرزلمی ورلېزل

تاسی دمخه د کابل په‌یوه ګڼه کښې‌داخوند پنجودروحانی ډلې‌ملی مجاهدات ولوستل اوس‌دهغه‌عصردملی‌حر کاتو یوبل اړخ هم‌و ګوری، چه‌څنګه یوه پښتون ستانه دآزادی غوښتلو بزم‌په‌خپل ګرم‌نفس تود کړی‌ؤ؟

چاچه دخوشحال‌خان داشعار وغټ‌دیوان لوستی وی،ضرور به شیخ‌ر حمکار په نامه‌پیژنی، چه‌دپښتنو هغه نومیالی‌پهلوان ئې‌په‌څه‌عقیدت اوا خلاص نوم ا خلی؟ اوڅنګ دخپل‌نیاز اوارا دت مراتب دهغه‌آستان‌ته‌ځر ګند وی ؟

داشیخ رحمکار په کا کاصاحب هم‌مشهوردی ،اوپه‌پښتو نستا ن کښې د ده کورنی په کا کا خپلو سره یادېږی. چه‌ډیر سیاسی اوعلمی اوادبی رجال‌اوس هم په‌دغه‌لویه کور نی کښې سته او کا کا صا حب پخپل و خت کښې دو نی نفو ذ اووجاهت‌درلودچه‌دده‌عقیدت مندان په‌ټولو پښتنوقبیلو کښې‌له‌اباسنیده تر کندهاره

خپاره وه. اومخصوصاً خټکو خودی ډېرستانه گاڼه ،اودخوشحال خان کورنی ئې ټول مریدان وه

دخوشحال خان یودرویش ورورجمیل بیگ مشهور په فقیرصاحب دکاکاخاص خلیفه ؤ،اوداخوند پنجو شاگردانو هم ده ته په درنه سترگه کاته

ددې سړی اصلی نوم پښتو« کستېر »ؤ،چه دیوه خوشبویه گل نوم دی. مورئې بختی نومېده، اود(۹۸۳ه) کال دروژې په لومړی ورځ چه جمعه وه ،دنوښار جنوبی خواته شپږ میله لیری، دخټکو په یوه کلی کښې دصبح صادق پروخت پیدا سو.

دپلار نوم ئې بهادر ؤ چه په ابك صاحب مشهورسوی ؤ، نیکه یې نادر نومېد ، چه خلقو مست بابا باله، دمست پلارغالب نومېد، چه دچراټ د غره په لمن کښې ښخ دی. دغالب له نیکو نوڅخه یوسړی آدم ؤ ،چه د کوهاټ په کر بوغه کښې یې قبرسته

عبدالحلیم د کاکا صاحب زوی په مقامات قطبیه کښې لیکلی ، چه زموږ نیکونه حسینی سادات وه،اود کاکا صاحب دنسب شجره په ۲٤ پښته حضرت امام حسین ته رسیږی . نیکونه مو په پښین اوغزنی اوخوست کښې ښخ دی ، او د لسمې هجری پېړۍ په اوائلو کښې سید آدم کوهاټ ته راغلی و .

مگر د کاکا خېلو دنسب شجره ټولو مؤرخانو په خټکو پوری نښلولې ده، حتی فقیر جمیل بیگ دخوشحال خان ورور چه دده اولاده دخټکو په شیدو کښې فقیر خیل نومېږی، پرتصوف اوطریقت ځینی رسائل په پښتو اوفارسی لیکلی دی چه دده په خپل قلم تراوسه په شیدو کښې سته، په دغو رسالو کښې جمیل بیگ مکرراً خپل رهنما کاکاصاحب خټك گڼی .

په انگریزی کتابو کښې هم د کاکا خېلانو قبیله دخټکو یوه پښه لیکلې سوې ده، مثلاً سنټرل ایشیا (دوهم جلد، ص۷۸) د۱۸۷۳ م طبع . دقبایلو قاموس

۱۹۱۱م (ج۲ص۴۹۳) دسرحد گزیټیر (ج۲ص۹۰۹) دپېښور تاریخ (ص۳۲۳).

په هرصورت که کاکا خپل اصلاً حسینی سادات هم وی، دوی له قدیمه دختکو پښتنو سره داسی گډ شوی وه، چه د (۹۰۰ه) په حدود و کښې سو چه پښتا نه او ختک گنل کېده، اولکه د کونړ او پښین سیدان، پډژبه، دود، کړه وړه، کا لو، اخلا قو اوعنعناتو کښې کورټ پښتانه وه، حتی چه د کا کا اصلی نوم هم سو چه پښتو کستېر وو.

کستېر په کوچنی وا له دختکو په سیمه کښې دقا ضی اخو ند د ین او خپل پلارابك صاحب څخه لوست و کړ، اود پلار په لاس دچشتیانو په سلسله کښې داخل سو، بیائی نور طرایق هم طی کړه، اوده پخپله ځان اویسی باله، اود متصوفا نو په ډله کښې «قطب حقیقی اومتجلی به تجلی ذات» و ګاڼه سو. له اخوند پنجو اوسید آ دم بنوری څخه ئې هم روحانی ګټې واخیستې، اود زرم هجری کال په شاوخوا کښې په زهداوریاضت اوتقوی او کرا ماتو خورا مشهورسو، اوده خانقاه د کاکا خپلو په کلی کښې ددینی احکامو اواخلاقودتبلیغ مرکزسو ه.

کاکاصاحب اتیا کاله ژوندی وو، خودجمعې په ورځ ۲۴ در جب ۱۰۶۳ ه = ۲۱ جون ۱۶۵۲م وفات سو، اوپه خپل کلی کښې بنخ کی ء چه مزارئې تراوسه دزیار ت په نامه شپږ میله دنو بنار جنو بی څنډی ته مشهور دی.

خوشحال خان دده دوفات تاریخ داسې نظم کوی:

چو رفت از جهان، شیخ دین رحمکار رجب بود جمعه بسه و سه هفت

چو تار یخ فو تش بجستم ز عقل چنین گفت باما که «بافقر رفت»

دده پنځه زامن وه ۱ـ ضیاءالدین شهید ۲ـ محمد گل چه په حاجی بابا مشهروو.

۳- خلیل گل چه په مزری بابا مشهور وو ٤- عبدالحلیم دمقامات قطبیه مؤلف ۱۰٦٦ ه

٥- نجم الدین کوچنی مړسوی دی .

دده مقام او منزلت

کستېر په خپله روحانی جوله کښې دخپل عصر د پښتنو یو تکړه رهنماوو. دده په خانقاه کښې دروحانیت مزی دپښتنو د آزادۍ له ملی غور ځنگونو سره نښتله. دده دملی اوقومی مقام دټاکنې لپاره هم دغه خبره بس ده، چه خوشحال خان غوندې نومیالی اود آزادۍ دډگر تکړه سپه سالار دده دروحانی خانقاه سره نښتی وو، او چه د، قطب حقیقی، له حجرې څخه به راووت، نو به ئې دتوری ځلا دمغولو استعمارچیان، دجنگ پرمیدان ړندوله. له دې څخه ښکاری، چه دده روحانی تبلیغ او تلقین لکه درو ښانیانو اواخوند پنجو په ډول ایجابی وو، سلبی نه وو . اوداهغه نکته ده، چه دپښتنو داجتماعی اوضاعو پلټونکی ئې باید مشرحه ولیکی چه د پښتنو په منځ کی دتصوف حرکت، ددوی له عنعناتو سره څنگه سمون موندلی دیء ؟ اوهغه منزوی او منفی حرکت ، دلته څنگه په یوه مثبت اوایجابی غور ځنگ او ښتیء دیء ؟

دپښتنو صوفی توری هم وهی، توریالی هم روزی، خود خانقاه روحانی رڼائې هغه لایزاله آلهی رڼاده . دپښتنو شیخ دراحت زاخیلی په قول، دخانقاه د گوټ شیخ نه دیء :

شیخ په گوټ کی ناست وائی دنفس سره غزا کوم

چه شی تور وته ورو ړاندی غزا داده

دپښتنو شیخ دنفس په غزانه دی قانع، دمغولو له غاصبو اواهر یمنی قواوو سره دخپلې آزادۍ لپاره هم غزاوې کوی دپښتنو شیخ، شیخ مولی او پیر روښان اواخوند پنجو اواخوند څالاك او کستېر غوندې وی .

دکاکاپه حلقه کښې ادبی حرکت :

کاکاپخپله دعلم او پوهې خاوند ؤ ، دده زامن هم مؤلفان او ځینی شاعران وه، په فارسی او پښتو دده دخانقاهی شاگردانو په سلسله کښې یوادبی حرکت هم موجود ؤ، چه ډېر کتابونه ئې منځته راوړی دی .

په دې کتابو کی دپښتو ادب ښه ذخیره سته، دپښتنو دتاریخ او ثقافت ډېرا ړ خونه هم له دغو کتابو څخه روښانه کېدای سی .

دلته به زه ځینی کتابونه ذکر کړم ، چه د کاکاد شرح حال لپاره له هغو څخه استفاده کېدای سی ، یاخاص دده په خانقاهی بزم کښې ترده وروسته لیکل شوی دی:

(۱) ،مقامات قطبیه فارسی دده دز وی عبدالحلیم لیك دده لی طبع ۱۸ ۱۳ق.

(۲) تذکرهٔ شیخ رحمکار، اردو دسیاح الدین کاکاخیل لیك دلاهور طبع ۱۹۵۱م.

(۳) کاکا صاحب ،پښتو دنصر لیکنه دپېښور طبع ۱۹۵۱ م .

(٤) دپېښور تاریخ .اردو دگوپالداس طبع لاهور ، ۱۸۷۰ م .

(٥) تحفة الاولیاء دمیر احمدشاه رضوانی لیك دلاهور طبع ۱۳۲۱ق .

(٦) مجمع البرکات دسیداللهشاه بخاری لیك ۱۸۸۵ م چا رسده (خطی)

(۷) تاریخ زیارت کاکا صاحب دحکیم محمد امجد لیك (خطی)

(۸) اسرار السالکین دکاکا صاحب مناقب شمس الدین هر وی لیك (خطی)

(۹) دکاکا صاحب مناقب دشیخ جمال الدین لیك (خطی)

(۱۰) مناقب شیخ رحمکار. دخواجه گل نور ننگرهاری لیك (خطی)

(۱۱) دکاکا صاحب منظوم مناقب ،پښتو دمیا محمد مبین لیک (خطی)

(۱۲) دکاکا صاحب مناقب دشیخ اسمعیل لیک (خطی)

(۱۳) مناقب رحمکار .دشیخ یحیی حضرتجی اتک لیک (خطی)

(۱٤) د کاکا صاحب مناقب د مولانا غلام احمد نوښاری لیک ، د (۱۹۰۸م طبع)

(۱٥) د صوبه سرحد انگریزی گزیټیر ، د میک گریگر لیک د ۱۸۸۷ م طبع

(۱٦) سنټرل ایشیا، د ۱۸۷۳م طبع ، ج ۲

(۱۷) د پنجاب او صوبهٔ سرحد د قبایلو قاموس ج۲ د ۱۹۱۱م طبع.

د پښتنو په ادب او سیاست کښې د کاکاخېلو برخه هم ډېره اونه هیریدونکی ده، میا حمید گل کاکاخېل د انگریز انو سره د پښتنو د آزادۍ د جنگ روح روان ؤ، ده ته خلقود «فخر قوم» خطاب ورکړی ؤ چه په ۱۹۳۰ م کال وفات سو (وگورئ د آزادۍ جنگ، ص٤۸) او میا جعفر شاه کاکاخېل هم د دې جنگ پوسپاهی ؤ چه ترا وسه د آزادۍ په فکر زیره سپینوی .

په ادبیا نو کښې هم له دې درنې کورنۍ څخه محمد شاه خیال او میا آزاد گل او میا حسیب گل او میا مسرور گل او رحمان او محمد یوسف ، او روغ لېونی او سامع مظهر ی او نسیم او تسنیم الحق او فرمان او ډېر نور سته چه زموږ د پښتو لپاره ئې په نثر او نظم کښې ښه ښه آثار پرېښې دی. او که سړی د کاکا صاحب زیارت ته ورسی هلته د پښتنو یوسپېره او دختو کلی دیء، خو له هره کوره ئې یود پښتو لیکوال راوزی. او سړی خوښیږی ، چه دا پښتانه د ژوند څپولاندی لاهو کړی ، او خپل ملی ژوند ، ملی فکر ، او پښتنی عنعنه ساتی .

ژواك

په پښتنی ادب کښې دښځو ذوق ته یوه کتنه

وایی: ادب دژوند تصویر او تفسیر دی یعنی ادب کولای شی چه ژوندو ښیې اوژوند دادب په هنداره کښی لیدل کیدای شی. په همدې وجه دادی دادب هنداره رااخلم ستاسې مخی ته یې ایږدم چه دښځې په نظر دښځې انتخاب یاخو په نارینه و کښې هغه برخه چه په هغه سره ښځه دیوه ادبی سمبول په شان خپله ذوقی تنده ماتولای شی ښیو یاخو داچه ښځه دیوه لطیف جنس په شان دخپل مقابل طرف خوی ـ عادت ـ بدنی برخه ـ جمالیاتی نوع څرنګه غواړی او په کوم صورت یی دستا ینې وړ ګڼلای شی.

دښځې همدغه انتخابی هڅه او انتخابې غوښتنه موږ ته دنارینه متعلق پښتنې ادب ښیی او ښود لای یی شی دا ځکه چه ادب دژوند تصویر او تفسیر ګڼل کیږی.

خیر موږ هره روځ شعرونه ـ نثرونه ـ افسانې ـ او نور ادبی اثار وینو چه نارینه یې وایې او لیکی یې په همدې لیکنو کښې موږ ته دلطیف جنس جمالیاتی انتخاب یاخو دنارینه وغوښتنه دهمدې لطیف جنس څخه ښه ښکاره او څرګنده ده خو دغه دوهمه برخه یعنی نارینه دښځی دانتخاب له رویه ښه پرچم له نظره لویدلی دی ـ دا چه ولې له کوم وخت نه دا کار شروع شوی دی، څله داسې شوی ده؟ دا ډول علل دومری پټ نه دی

دا ځکه چه موږ پښتانه یو ـ او ـ وو. او پښتنو دا ښه بلله چه ښځه به د نارینه و متعلق حتی د نارینه ود خوښی سوال پټ ساتی. دا پټه ساتنه زوی ته د عفت ـ پاکی او با حیاء والی لوی دلیل باله کیده یا داچه همدغه ډول نظر یو ښځه دې ته گمارلې وه چه ځان خپله غوښتنه او خپل انتخاب پټ وساتی او په همدې ډول پټ ساتلو ځان با حیاء ـ پاکه او د عفت خاونده وښیی.

ډیره عجیبه لاداوه چه اکثراً به ښځه شاعره د نارینه و په پیښو اخته وه حتی ځان به یی د نارینه و په شان ښوده دا ځکه چه پښتنو به نر طبیعته ښځه خوښوله نه دا چه خیال وکړی چه ښځه د نارینه و سره فرق لری او نارینه یو ډول خواص لری ښځه بل ډول، یا خو دا چه نارینه یو ډول انتخاب لری او ښځه بل شان.

دلته په همدې مقاله کښې تاسې همدغه د کلونو کلونه پټه خزانه او په پټه خزانه کښې پټه ځیره لیدلای شیء او د سره اشنا کیږیء.

یا دا چه دلته تاسې همدغه دوهمه برخه گوریء یعنی نارینه د ادب په بهه کښې د ښځی په نظر او د ښځی د انتخاب له رویه ووینیء.

ښه دا خبره هم د یاد ولووړه چه پښتنه ښځه سره له همدغو قیوداتو بیاهم ژوندی پاتی شوی ده او خپل د ژوند مظاهر یې پښتنی ادب کښې نسبت اکثرو ژبو ته ښود لې دی او ښود لای یې شی.

یا دا چه پښتنی ادب دا ډول برخه لری چه هغه برخه پښتنه، په خپلو پښتنی رنگونو او د خپلو پښتنی او انسانی یا خاص د ښځې په خواصو سره وښود لای شی چه د دې ډول ادب نوع لنډی دی او همدغه لنډی کولای شی چه ورو سته له اقلا د وو زرو کلونو را ایسې دا پټ دا یرو لعل را وباسی.





د ملنګ جان دیادونې لەمراسمو څخەدوې منظرې :

خیر مقدمه به نه اوږدوو بلکه اصل مطلب ته به راشو هغه دا چه یوه پښتنه وایی :

پر سرد ې کوم جلا ت ولا ړ دی

چه دې زماله یار ی واخیسته لاسونه

دلته پښتنه پیغله خپل اشنا ننګیالی ښیی او وایی زما اشنا د خپل وخت د ظالم او مستبد قوت منګلو کښې ګیرد ی او دده دژوند هغه مر حله ده چه د سر پرې کړه ورضره متصوره شوی ده او همدغه ډول علت کولای شی چه زما په اشنا زما یاری پریږدی. یعنی یو عادی علت د دې باعث کیدای نشی چه په ده دې زما یاری ته دترك ځواب ور کړی نو ځکه د یاری د پریښود لو سره د جلات دلفظ ذ کر خپل تسل بولی او دنورو هم زولو دپاره همدغه علت ځر ګندول د خپل اشنا د پت ساتلو پرده بولی .

بل ځای وایی :

پاس پر کمره ولا ړ ې ز ر کې

بازمې رنځور دی ترخوله وینې تویوینه

په دې لنډی کښې به تاسی د «باز» لفظ لیدلی وی او «ترخوله وینې توئیدلو» ته به هم ملتفت شوی یاست.

باز د ښکار په وخت کښې ډیره تیزی لری او کله د ښکار په تلاش کښې د کوم کمره دلا ښ یا ګارنې سره موښلی - زړه یې چوی دباز دچالا کی نسبت خپل اشناته کو ل اوده درنځ علت هغه هم زر کې ته چه دیوې خوا ښکار دی اود بلې خوا دزر کې سره رازاو نیاز کول چه زر که پخپله دپښتنی ادب یو ښه رنګین سمبول دی ډیرادبی خوږوالی لری او په همدغه سم تسلسل کښې یو خاص تشویش ښکاره کو ل دیوه لطیف جنس له خوا. موږ ته دپښتنې میر منې غوښتنه او انتخاب ډیر ښه ښودلای شی .

یادا چه وایی :

پرلارې ځم ګو تې مې ریږ دی

زه داشنا روغې راستی وهلې یمه

وګوری ء اشنا دراستی خاوند بلل اوخپله کمزورتیا - یاخونر پت من ښودل اوبیا دده په پت مباهات کول او خپل شیدا ئیت د یوه داډول اشنا سره چه هغه نامردی، ونه لری دپښتنې پیغلې مینه له راستی سره راښودلای شی .

بل ځای داشنا دډیر مجبوریت په وخت کښې پرده رحم کول یادخپل انتخاب ضیاع نه غواړی اوپه دې عبارا تو :

پر ګو رستا ن می سلا م وایه

چه خا و رې نکړې د جانان نر ی بریتونه

«نری بریتونه» دځوانی وخت دی پښتنه همدغه ارمان ګو رته استوی خود سلا م سره، همد غه دځوانی نخښه خاورې کو ل دخپلی خواشینی سبب بو لی اود «بریت» یاددې ته لکه دنر له خوا داوربل یاد - داډول خوږ ایسی .

بل ځای خپله غوښتنه داډول ښیی :

بوډا به هیچر ی یار نکړم

بوډا چه ځان تیاروی سبا به شینه

دا یوه طبیعی غریزه ده چه ځوان ځوانه خوښوی دهمد غی غریزې اظها رپه همدغه لنډی کښې شته اوپښتنه پیغله خپله ځوانی دځو ان وړ ګڼی او د ځو انی بهار دهمدې خزان څخه ساتل غواړی .

شوخی :

کله کله دادب په بر کت پښتنه نجلی شوخی هم کولای شی اوداډول :

اور بل می جګ کړه خال می چپ (مچ) کړه

دجنت ګل دی پرې تازه به‌شې مینه

ښه‌یو نیاز دی څرنګه چه‌پښتون دمچی دې را کړ ې جر ئت کو لای شی په همدغه ډول پښتنه دمچې دواخله سوال هم پیښولای شی حتی دجنت ګل یې ګڼی .

یادا چه‌وایی :

اوس به‌دې یوموټی ایرې کړم

که خماری سترګې په‌نازدر واړومه

هو! دشوخی په‌حال کښې دی په خمارو سترګو بیرو ی هم و ر ته‌و ایی چه زماپه‌ستر ګو کښې دومری دمینې اثرشته چه اور واخلی اوایرې هم‌شی .

یادا چه‌وایی :

بنګړی مې ستاپه کټ کښې مات‌شول

که‌میړ نی یې اوس مې ډك کړه مړوندونه

دا کټ ته ورختلې ده اوهلته یې بنګړی مات‌شوی دی مړوندونه‌ورته تش ښکاری اوس شوخی کوی اووایی میړ نی شه‌مړوندونه‌مې راډك کړه .

کله‌لاهمد غه‌شوخی دا ډول رنګ پیدا کړی چه‌داشنا سره حساب او کتا ب راواخلی اوداډول :

پاس د اسمان ستو رو ته ګو ره

پرتامې دومری دی دسپینې خولې پورونه

ښه‌تول اوترازو ! څومرې ووړ معیارچه حساب په کوی !! داسمان‌ستوری دسپینې خولې دور کړې شاهدان بولی اودی په مرهون کوی مګر پیرایه ډیره خو ږه او ادبی ده دسپینې خولې دور کړ ې حساب دی- مجرا به‌یې څه‌وی .

بل ځای وایی:

اشنا په خوله کښې ژبه غواړی

په خوندیې نه دی خپل قلنګ جاری کوینه

دلته تاسی مباهات وګورئ.

داوایی اشناژ به په خوله کښې غواړی ضمناً داهم ښیی چه نن یې نه ده رانه غوښتی داعادت دده سر ه له پخوا څخه هم شته ا وا شنا همد غه غوښتنه د قلنګ په شا ن جاری ساتی. یا داچه داد لالی (یار) اولـونګین پرسینه ځائید لو مبا هات داړول ښیی :

پر سینه یو لالی ځائیږی

زه لونګین او لالی دواړه ځایومه

دلته لطف دادی چه دالونګین اولالی یوځای کو ی او لالی ته هم پر خپله سینه دلونګین په شان ځای ور کوی یعنی که نر داځای دتخت سره تشبیه کوی اوخوښوی یې دابیا همدغه تخت دلونګین په مر صع سینګار وی اوبیا پر هغه اشناته ځای ور کول په شاعرانه پیرایه سره ښه لطف بولی.

یاداچه وایی:

اشنا می توت لاندی بیده و

لکه باښه پر شر نګیدم راویښ می کنه

دلته دشر نګید لویعنی دګیهې په شر نګاد اشنا راویښیدل اوبیا ځان باز بلل چه باښه یې دوهم نوم دی، دهغه ویښیدل اویاخودپیښیدلوهمدغه طریقه څومری خوږه ده. خیر تردې ځایه دلطیف جنس دشوخیو اظهارویاخود دې په نظرددې دانتخاباتو ښودنه وشوه اوس به داشناپریوعادی عمل ددې دلطف انګازه وګورو لکه چه وایی :

اشنا مې نوی‌چلم کښې شو

دڅیړی اوربه په پیزوان و ر خیژ ومه

دلته تاسې‌دشنډ وسرخی اودپیزاون په‌واسطه اوراخستل هغه هم‌د اشنا چلم ته‌اوبیا ځان دې عمل ته‌مجبورګڼل اودانا د پاره دچلم دعمل نوی عادت یا ډول په خپله دڅومرې لطف اوخوند سره ملګری بولی- یاداچه وایی:

پرچلم دوې سکروټې کښیږده

لکه دوې ښې په‌سیالی خوله‌ور کوینه

اشناته ددوسکر وټویادول اود هغه تشبیه ددوو ښو سره او داچه‌داد دو وښو حال دسیالی اورقابت په‌لحاظ ښیی دا د همدې لطیف‌جنس‌دحال ښه بیان دی چه دنرله خوایې‌داداء پیرایه په‌دومرې‌باریکی‌ډیره کمه‌لیده کیږی اوهمد غه‌شان دمطلب په‌څرګندولو کښې ددوهم مطلب اظهار ډیرلږ ښیی په هر حال ددې ډول لطیف ادب لمن په‌پښتو کښې ډیره پراخه ده‌اوپه بله مقاله کښې به ددې ډول کیفونو سره تاسې ښه اشناشی.

دروسی څخه مترجم: لیکونکی گ-ف- گیرس

معتمد شنواری

پښتانه لیکوال دنو رو په نظر کښې

-خادم-

په ۱۹٤۱ کال کښې د دو و مجمو عو (نوی ژوندون دقیام الدین خادم تصنیف او بله ډیوه دگل پاچا الفت تصنیف) چاپیدل د هغه وخت په ادبی ژوند کښې یوه مهمه پیښه وگڼل شوه .

قیام الدین خادم د لویو مـعاصرو پښتنو لیکـوالو څخه دی- دی په ۱۹۱۲ ع کـال خادم کښې دننگرهار د کامې په سیمه کښې زیږ یدلی دی او په قوم زاخیل دی ده ډیر کلونه په هند کښې تیر کړ ی دی او هلته یې خپل مذهبی تحصیلات او علوم تکمیل کړل. کوم وخت چه ده خپل هیواد ته مراجعه و کړه نود معلم په حیث په کامه او جلال اباد کښې مقرر شو-په عین حال کښې ده د ننگرهار په ورځپاڼه کښې هم کار کاوه او هلته یې شر کت درلود.

په ۱۹۳٤ ع کال کښې خادم د کندهار په ادبی ټولنه کښې داخل شو : په دې ځای کښې دده فعالیت په ادبی کار ونو کښې ښکاره شو اووسعت ا و انکشاف یې پیدا کړ-ده یو ګرامری کتاب (دپښتو معلم) تصنیف کړ او په ۱۹۳۵ ع کال کښې یې دسپینسر کتاب (داطفالو اخلاقی تربیه) ترجمه کړ-په همهغو کلونو کښې دخادم ډیر اشعارد کندهار په اخبار (طلوع افغان) کښې چاپیدل اودا سلسله ور کښې جاری وه .

خادم یوله هغو مبتکرینو څخه دی چه غوښتل یې پښتو تصفیه کړی او پردی لغات ورڅخه وباسی .

په ۱۹۳۷ ع کال کښې چه د پښتو اکاډیمی تشکیل شوه نوخادم کابل ته راوغوښتل شواو په اکاډیمی کښې دیوې څانګې دمدیر په حیث مقرر شو اوهم یې د (زیری) چارې په غاړه واخستې .

دڅلورو کلونو په موده کښې چه خادم په مرکز کښې تیر کړل دغه لاندې کارونه ورڅخه صادر شول:

دمعا صرو پښتنو لیکوالو سوانح یې وایکلې او چاپ یی کړې- یوډرام یې (یومسلمان اوټوله اروپا) په پښتو ترجمه کړ- یو کتاب یې (په پښتو نثر کښې تاریخی تغیرات اودنثر لیکونکی په باره کښې معلومات) د چاپ دپاره تیار کړ -د(پښتانه شعرأ) نومی کتاب په جوړو لواو ترتیبولو کښې یې برخه واخیسته- دامین الله زمریالی په ګډون د حکومتی مأمورینود تدریس دپاره یې دوه ټو که پښتو کلی ولیکلې- ملی قصواو مضامینو ته یې ادبی رنګ ورکړ -د اشعارو یوه مجموعه یې (دمر غلروا میل) دچاپ دپاره تیاره کړه او هم یې د (نوی ژوندون) کتاب چاپ کړ- په دې کتاب کښې برسیره له قصواو مضامینو څخه لوستو نکی

له وړو وړو اشعارو سره هم مخامخ کیږی. په دې کتاب کښې د خادم ډیر آثار اومضامین ځای شوی دی. هغه مضامین چه پخوا په طلوع افغان، زیری، کابل مجلې او نورو نشریاتی ځانګو کښې چاپ شوی او نشر شوی وو.

دخادم په دې مجموعه (نوی ژوند ون) کښې چه کوم نثردی اثارځای شوی دی هغه په درې ګرو په ویشل کیږی: الف:مذاقی. عبرتی اواجتماعی قصې چه داد شرقی ادبیا تویو مشهور سبك دی.

ب- دمؤلف خپل اصلی اوابتکاری نثری آثار.

ج -- اجتماعی مضامین.

له دغو قصو څخه په زړه پورې قصې (پردی خط لوستل اودتیږې حال) دی. «دثروت چل» قصه دټو کو اوټکالو په روح لیکل شوې ده -ددې قصې مضمون داسې دی:

یووخت یوسړی په اخبارو نو کښې اعلان و کړچه زماددولت دګټنې چل زده دی زه داچل وړبا دهیواد اووطن داستفادې دپاره بنیم هرڅوك چه غواړی چه ددې موقع څخه ګټه وا خلی نو په کار دی چه دخپلې صحیحې پتې سره دځوا ب دپاره دوه انی اویا ددوه انودړاک ټکسونه راولیږی نوده ته به داسې چل وروښودل شی چه په کاله کښې ناست وی اومعقوله ګټه و کړای شی .

په داسې وخت کښې چه ډیر عالم دبی کاری اوبی روزګاری نه سرټکو لو- دا اعلان زرګونو کسانو په ډیرشوق سره ولوست اودهریوه په زړه کښې دا را غله چه ځه بابا دوه (آنې) څه شی دی . ګوندی خدای مهربانه شی اوپه دوه آ نو را ته پوره دولت لاس ته راشی نود هرې خواڅخه دسړی په نامه کاغذ ونه راورسیدل- څوورځې وروسته سړی په اخبارو نو کښې دابیان خپور کړ :

«دجنوری په پنځمه نیټه چه مادولت دګټلود چل دښود لوپه باب اخبار ونو کښې اعلان کړی ودهغی په اثرماته شپاړس زره خطونه راغلل هر کله چه زه دې ټولوته په انفرادی ډول ځواب نشم ور کولی نوحسب الوعده چل ځواب داخبارونو په خوله خپلو منتظرینو ته ورکوم ـ د اشپاړس زره خطونه چه ماته راغلی دی دهر یوه سره دوه‌دوه آنې هم دی چه ټولې دوه زره کلداري شوې- زه خود تمام عمردپاره‌دمفلسی دبار څخه خلاص شوم ـ ددولت‌دګټنې‌دپاره ددینه بهتر چل بل چیرې دی ؟ دغه دی تاسې ته مې‌وړیاوښود» .

دخادم‌ځینی عجیب نثرو نه چه په نوموړی مجموعی کښې‌چاپ شوی دی په سوچه پښتو لیکل شوی دی ددې جـملې نه یو مضمون د(توتـکی‌ځاله) او بـل (د کوترو کور) دی لکه چه‌مخکښې موویاں خادم یوله هغو لومړ نیو اشخاصو څخه‌دی،چه‌دپښتودسوچه‌والی دجریان طرفداردی‌نو ځکه کوښښ کوی‌چه‌خپل‌اثـار دسوچه‌پښتو په سبك ولیکی او همدا سبك دده په اثارو کښې لیدل کیږی .

دخادم دغه قصه (د کوترو کور) د۱۹۳۹ ع کال د کانکوردپاره وړاندې‌شوې وه اولوړ مفهوم‌لری .

په دې مجموعې(نوی ژوندون) کښې ځینی اثار دطبیعت دستاینې دپاره وقف شوی دی اودحیواناتو دژوند او ددوی دخرنګوالی څخه‌بحث ور کښی شوی‌دی

دخادم بدیعی اثار چه په نوموړی مجموعې کښې چاپ شوی دی‌لوستونکوته ډیر په زړه پورې شیان وړاندې کوی او ددلچسپی وړدی ـ دا اثار دمحاورې په ژبه لیکل شوی دی دمتلونونه ډك دی او اصطلاحات لری .

ددې مجموعې ټول مضامین دیوازې پښتو په سبك او ستیل لیـکل شوی دی او پـه دې موضوع کښې یو تر بله سره کوم فرق اوتو پیرنه لـری .

دخادم کوم اجتماعی مضامین چه دلته چاپ شوی دی هغه ډیر په زړه پوري دی او دلچسپی لری ـ دامضامین پخپله دلیکوال ایډیال اومفکوره ښیی او هم دده داثا رو متضاد خاصیت ورنه څرګندیږی .

خادم دنور موړی مجموعی په یوه مضمون کښې «استعداد» په هغو خلکو چه وائی دټولې نړی علوم او تخنیك دلقمان دمعلوماتو څخه اخستل شوی دی او دده پر کت خلکو کمال حاصل کړی دی سخت انتقاد کړی دی اودا انتقادیې په ډیره رښتیانی لهجه لیکلی دی. په یو بل مضمون « تنګ نظری » کښې دی دپان افغا نست په نظریی ټینګ دی.

په هغه مضمون کښې (دغمجنو سره) دی دبیوزلو او مظلوموسره خپله خواله کوی او دوی ته توصیه کوی چه عفو کوی ـ صبر اوتحمل کړیء ، خبره تیروی.

وروسته بیادی هغو اشخاصوته چه سخت سری دی سرزنش ور کوی اورټی یې اوهم هغه وګړی دده د تنقید اوفشار لاندې دی کوم چه نه غواړی دخپل خواهش اوآرزوڅخه په لږه اندازه هم تیر شی . دخادم دامضمون بوه دینی محتاطه نظریه ده او دپښتنو دمذهبي ټولنو افکار پکښې منعکس شوی دی . دومره خبره باید وویل شی چه خادم داسې نه دی چه ګوندې یوازې ددغو محتاطو اومحافظه کارو ټولنو په زړه پوري اودعلاقی وړشیان ښکاره کوی بلکه دده په اثارو کښې متضاد تمایل لیدلی کیږی اودده دجهان بینی مهم تحولات ښیی .

په ۱۹٤۱ ع کال کښې داصلاح ورځپاڼې دخادم دسفر سلسله (څوورځی په شمالی کښې) خپروله ـ دغه دسفراو سیاحت دکتنولیکل اودغه ډول مضامین له ډیرې مودې راهیسې په پښتو نثر کښې نه وو خادم یوله هغه مبتکرینو نه دی چه داسلسله یې شروع کړه اوخپلې سفر نامې لیکې .

باید ښکاره او مستقیماً ووایو چه دده مضامینو هم دموضوع له حیثه او هم دخپل بدیعی مزیت له حیثه دمعاصرو لیکوالو دپاره تر اوسه پورې دسرمشق او نمونې په رنګ خدمت کړی دی .

دخادم دمضامینو ژبه بیخی دننګرهار محاورې ته نژدې ده او ددغو خلکو په محاوره لیکل شوی دی .

په هغه دوره کښې چه خادم په کابل کښې کار کاوه دده ددلچسپۍ دایرې وسعت او انکشاف پیدا کاوه. ده په اوسنیو عصری علومو مقالې ترجمه کولې داټومی انرجی او فضائی وړانګو په خصوص کښې یې ژباړې کولې او د ټاګور اثاریې په پښتو ژبه چاپول .

په (۱۹٤٥) عیسوی کال کښې خادم یوه قصه د (تقدیر لاس) په کابل مجلی کښې چاپ کړه ددې قصې مضمون داسې دی :

په یوه وخت کښې دوه دوړ و کتوب ددورې دوستان سره مخامخ شول پخوا دوی یو ځای سره سبق ویلو- یو ځای به یې لوبې سره کولې بیا دمکتب نه فارغ شول او سره جلا شول وروسته له ډیرو کلونو دادی دوی بیا سر دوباره سره ولیدل دغه یوه دوست دې بل دوست ته بلنه ور کړه چه بیګاته زما میلمه یې . دا کور به ډیر ذثروت څښتن ؤ ډیر ښه کوریی در لود- ډیر اعلی باغ یې در لود مګر دغو شیانو نه خوشحالاوه او غمګین معلومید لو بالاخره دغه کور به خپل حال ورسره شریك کړ او دخپل ژوند سرګذشت یې وروسته داسې بیان کړ : دتحصیل نه وروسته ډیر کارونه چه لازم ووماو کړل ډیرې چوکۍ مې اشغال کړې او حتی دګورنر رتبې ته دادی راورسیدم پیسې ډیر ې دی، عزت ډیر دی لویه دارئی لرم ، ډیر کورونه مې وران کړل او خپل مې آباد کړ ، یوه پیغله مې ځانته انتخاب کړه مګر دواده په اوله ورځ

زما په لاس اوپښو ګوزن ولګید او چه هر څومره ډاکټرانو باندې وګرځیدم تراوسه پورې لاهمهغسې دی اونه ښه کیږی او دزړه داغمې ورځ په ورځ تازه کیږی.

په دې قصه کښې خادم دمأمورینو په حرص !نتقاد کوی هغه مأمورین چه دخپلې هوسائی دپاره یی ډیر کورونه وران کړی دی اوډیریې غریبان کړی دی. دمؤلف په عقیده نوموړی مأمور خپله سزاولید له اوحتی خپله ګناه یې پخپله حس کړه اوخپل وجدان ته خجالت وباسی .

دخادم ډیرې مقالې د کورنی ژوند دپاره وقف شوی دی دازاد واج اود ښځو داوضاعو په باره کښې ده لیکنی کړی دی-ده په یوه وړه قصه کښې (په ماشومانو پام کوی ء) هغه عوارض چه دماشومانو دهلاك سبب ګرځی بیان کړی دی هغه خبرې چه دده نه بې اختیاره او دنورو موضوعاتو په ضمن کښې وځی هغه ډیرې په زړه پورې وی . دی ضمناً لیکی د پښتنو په یوه غریبه کورنی کښې دیوه هلك دتلین مراسم نیول کیږی ډیره مړی یې پخه کړه سیرلکی یې حلال کړ اویوه ښه میلمستیایې ترتیب کړه ددې مړی اکثره برخه یې ملاته وروړه مؤلف داواقعه په دې جمله ختموی :

اخ په پښتنو کښې داسې دستورونه دی .

په ۱۹٤٦ع کال کښې قیام الدین خادم داستقلال جایزه واخیسته دا جایزه ده ته له دې کبله ورکړی شوه چه ده دهند دیومعاصر لیکوال نیاز فتح پوری اثر (دشریف سرګذشت) داردونه ترجمه کړ. دخادم دغه ترجمه لومړی په (۱۹٤۷-۱۹٤۸) کلو کښې د کندهار په ورځپاڼه (طلوع افغان) کښې چاپ شوه وروسته بیا په اصلاح کښې نشرشوه او بالاخره بیاپه ۱۹۵۳ع کال کښې دیوه مستقل اثر په حیث مینځ ته راووته .

دموضوعاتو دوسعت له کبله دخادم ترجمه په پښتو کښې بولوی اثر ګڼل کیږی پښتانه داترجمه پخپلې ملی ژبې کښې دلومړی رومان په حیث شمیری . په هغو تقریظونو کښې چه په دې ترجمه باندې لیکل شوی دی په اتفاق سره دا لیکی: چه د مطلب دوضاحت نه - د کلام دروانی نه - محاورې ته د نژدیوالی نه - دجملو دساخت او تأثیر نه اودغنغنوی اصطلا حاتو نه دامعلومیږی چه (دشریف سر گذشت) ترجمه نه بلکه دخادم خپل اثردی په ١٩٤٧ع کال کښې خادم یوه مقاله (پښتانه اوپښتونستان) نشر کړې ده . په دې مقاله کښې ده په ښکاره سره ویلی دی او ټینګاریې کړی دی چه نور اریایی خلك چه اوس په ایران - هند او اروپا کښې اوسیږی دپښتنونه تللی اوجدا شوی دی او اصلې ټاټوبی یې دلته ؤ.

قیام الدین خادم یوه مسلکی مخصوصه مقاله دښځو داحوال د پاره وقف کړه دامقاله په ١٩٤٨ع کال کښې هغه وخت چه په کابل مجلې کښې دا اقتراح (ښځه دپښتنو په نظر کښې) شروع شوې وه نشر کړه په دې مقاله کښې خادم وایی چه په افغانستان کښې ښځی هم په ټولنه اوهم په کورنی کښې دټولو حقوقونه بې برخې دی حتی خرڅولی یې شی اوبې له کومې سزاچه قاتل ته یې راجع شی وژلی یې شی - خادم دخپلی دې مدعا د پاره چه ښځی د حقوقونه محرومې دی ښکاره حقایق اوروښانه دلایل راوړی . دی لیکی چه دپښتنو په ډیرو قبایلو کښې الکه شینواری د نکاح او طلاقو کلمی نه استعما لیږی بلکه په عوض کښې یې د (وامی خیسته اوخرڅه مې کړه) کلمې استعما لیږی- خادم په هغه عادت (چه کونډه دلیوره ده) سخت انتقاد کړی دی اوداخوی اوعادت یې ناموزون ښود لی دی .

په ډیرو موار دو کښې مور او پلار دخپلې لور سره موافقه نکوی چه پخپله خوښه میړه وکړی بلکه ټولونه لومړی دوی دافکر کوی چه په څه شان اوپه

کومو امکاناتو به و کړای شی چه ډیر (ولور) لاس ته راوړی - خادم پښتنو ته بلنه ور کړې ده چه دادرانه اوبد عا دتونه دمینځه یوسیء اوښځی ته د یوې کورنی او دیوې جامعې دغړی په حیث حقوق ور کړی اودې کارته متوجه شی. خادم دمیرمنو دخیریه ټولنې موسسې ته ډیرې هیلی لری اوهم ده په ځلمیانو پورې هیلې تړلی دی دخادم په عقیده دالومړی ځل دی چه زمونږ په هیواد او زموږ په ټولنو کښې دښځو په حقوقو باندی بحث اوغور کیږی تر اوسه پور ې نه اخبارونو اونه مجلو په دې باره کښې خپرونی کړی دی او که چاپه دې باره کښی څه لیکلی وی نو هغوی به تبجن غوندې لړزیدلی وی .

خا دم د بدبختیو ریښې په دې کښی وینی چه پښتنو دپیغمبر داوامرونه سرغړولی دی اودشریعت هغه احکامې پریښی دی چه د ښځو حقوق ور کښې ذکرشوی دی.

لکه چه وینود خا دم مذ هبی او محیطی محد ود یت دده د تنقید لهجه په دې زړه پو دې موضوع کښې ډیره راټیټه کړی ده اومضمون یې پوره نه دی رسولې.

خادم له ابتدأ څخه دځلمیانو په ډله کښې شریك و.ده په یوی مقالې کښې چه دځلمیانو دپاره یې لیکلی ده داسې ویلی دی مونږ دمتمد نی نړی څخه وروسته پاتی یو هم دسواد له حیثه وروسته یو اوهم دصنعت له حیثه- تجارتی چارې مونو روسره نه دی برابرې اوهم دژوندشروط موټیټ دی هغه مواد چه دخادم له خوادا فغانستان اوسنیو ځلمیانو ته وړاندې شوی دی دتوجه وړدی ځکه له هغونه دخادم دنظر یو یاتو بی ترتیبی اوعدم موازنه ثا بتیږی دی نو موړی مواد داسې وړ اندې کوی :

۱- باید هر یو خپل ځان پخپله ورسوی اوهم دې نوروسره کومك کوی.

۲- دروغ اوهغه خبرې چه حقیقت نه لری نه دې وایی .

۳- دهغو پیښونه چه په نړی کښې واقع کیږی ځان دی ورنه بیخبره نه اچوی.

٤ـ دشخصی غرض له‌خاطره دې‌د چاسره کينه‌نه کوی‌او هم‌دې د جامعی مفاد دشخصی مفاد نه وړاندې ګڼې .

٥ـ تملق اوچا پلوسی به‌نه کوی‌او نه‌به‌چا پسی دطمعی له کبله ګرځی .

٦ـ خلکو ته‌به‌ضرر نه رسوی.

٧ـ خپل مذهب ـ هيواد ـ خپل‌ملت‌او حکومت سره‌به مينه اوعشق‌لری .

٨ دحقايقو نه‌به‌نه ويريږی .

٩ـ رشوت به‌نه اخلی‌او په هيچا به‌ظلم او تيری‌نه کوی .

لکه‌چه‌وينو په‌پورتنی پروګرام کښی قيام‌الدين خادم‌په ځومراحلو سره‌د ښځود اوضاعو نه‌لری شويدی په‌هغه‌مقاله کښې‌چه‌دښځو په‌باره کښې‌يې‌ليکلی‌ده ځومره‌يې دښځوموضوع‌ته‌پاملرنه کړی‌ده‌او ځومره‌يې‌خلك‌دښځو حقوقو ته‌ور بللی‌دی مګردلته بياچه ځلميانو ته کوم موادوړاندی کړی‌هغه‌بوازی په‌نرانو پورې‌اړه‌لری اودښځو کوم ذکر ور کښې نشته .

په‌١٩٥٠ع کال کښې‌د بو کال‌دپاره‌خادم‌د کابل‌نه کندهار ته‌ولاړ، دی‌هلته‌دهغه ځای محلی اخبار (طلوع افغان) دمديرپه حيث‌تللی ؤ په راتلونکی کال کښې‌د ی بيرته کابل ته‌را غی اودلته دپښتوا کاډيمی د معاون په حيث وټا کل شو .

په١٩٥١ع کال کښې‌دده‌يوه‌مقاله (ملی کالی)چاپ‌شوه په‌دې‌مقاله کښې ده‌دخپل هيواد دلاسی صنعت‌طرفداری کړی‌ده اوخلك‌يې‌دهغو زړو ما لونونه چه‌د سيلاب غوندې‌له‌خارج نه‌راځی دخپل‌هيوادلاسی محصول ته‌ورترغيب کړی‌دی اوهم‌يې‌په عين‌حال کښې هغه‌بيايان چه‌ددوی فوق‌العاده خرڅونواو بی اندازې مصرفو نو ده‌ملکت‌اقتصاد متأثر کړي دی‌ترتنقيد لاندې نيولې دی .

په ۱۹۵۲ع کال کښې خادم یو کتاب (پښتنولی) چاپ کړه په دې کتاب کښې د پښتنو عادات او نوامیس بیان شوی دی ـ د خادم دې کتاب نه ممکنه ده چه ښه په زړه پوري شیان چه د پښتون ملت په کلچر پوري اړه لري راوایستل شي په راتلونکی کال کښې پښتو ټولنی د خادم یو تاریخی کتاب (بایزید روښان) چاپ کړ دا کتاب د روښانیانو د نهضت مشر بایزید انصاری ته چه یو فعال دینی لارښوونکی دی وقف شوی دی .

د خادم دو یناله مخې تر (۱۹۵۰) کال پورې دده اثار (تألیفات او ترجمې) تر پنځه ویشتو پورې رسیږي مګر له دغه وخته راهیسې دده ادبی فعالیت لږ شوا و د دې علت دادی چه دده نور کارونه ډیر شول یعنی د اصلاح مدیر شوا و د تألیف وخت یې د مینځه لاړ بیاد پوهنې په وزارت کښې د کورسونو مدیر شوا و په عین حال کښې د زیری مدیر هم ؤ.

دقیا م الدین خادم دلیکنې سبك او لار رنګار نګ او پیچلی ده او د مختلفو موضوعاتو نه بحث کوی هو! د پښتنو د لویو معاصرو لیکوالو په آثارو کښې تضاد واقع کیدل ـ کومه تصادفی خبره نه ده .

سټه کنډو (دخوست اوگردیز ترمنځ) (دمطبو عاتو عکاسی)

محمد صدیق روهي

رمانتسیزم

Romanticism

(۲)

لغت اوریښه یې : درمانتسیزم نوم درمانتیك(Romantic) له‌صفت څخه‌مشتق شوی دی‌چه درمانتیك کلمه‌هم دزړې‌فرانسوی‌له رمانز(Romanz) څخه اخیستل شوی ده چه‌معنی یی رمان(Romance) یاناول (Novel)دی . لیکن دغه کلمه .دلومړی ځل دپاره د(۱٦٥٤ع) په حدود و کښې په انګلیسی اد بیا تو کښې استعمال شوې ده. درمانتیك معنی ده« درمان‌په شان» چه‌مجازاً دخیالی اوموهومی په معنی استعما لیده. ترانلسمې پیړی پورې درمانتیك لفظ پرنیو ډول ملانکولی باندې اطلاق کیده .درمانتیك کلمه په(۱٦٧٥ع) کښې په‌همد غه پور ته مفهوم استعمال شوه مګر تر (۱٧٧٦ع) پورې په‌اصطلاح «له‌موډه لویدلې وه »خو لیترنر (Letourneur)په‌خپله مقدماتی بیانیه کښې چه دشکسپیر داثر ترجمې ته یې لیکلې وه دغه کلمه یه ایتالیك (Italics) تورو په لوی (R) ولیکله اوپه خپله یادونه کښې یې څرګنده کړه چه‌نه‌در مانسك (Romanesque) لفظ اونـه (Pittoresque)دغې کلمې هغه لطیف تأثیر ات اوملانکولی افکارافاده کولی شی‌چه دانګلیسی په‌مفهوم کښې ورسره شته. په زاتلونکی کا ل کښې یوه‌بـل فرانسوی لیکوال درمانتیك‌لفظ تقریباً په‌همدغه‌وروستی مفهوم‌اوممیزاتو- استعمال کړ. په(۱٧٧٧) کښې روسو په‌خپل اثر«دیوه منزوی ګرځندوی اندیښنې » کښې استعمال کړ. دی‌لیکی :«دبین دریاب‌سواحل دژنیو ددریاب له‌سوا حـلوڅخـه زیات وحشی اورمانتیك دی»له‌دې وروسته د رمانتیك کلمه ډیره زیا ته تعمیم شوه اوپه(۱٧٩٨ع) کښې دا کاډمی له‌خوارسماً ومنل شوه بیافرید ریك شلګـل

(Friedrich Schlegel) دا کلمه د کلاسیسیزم (Classism) په مقابل کښې استعمال کړه کله چه مادام دوستال (Mme.destael) د جرمنی په مسافرت کښې د شلګل ملاقات اولیدنې ته راغله نوله هغې وروسته یې دا کلمه په فرانسه کښې په زیاته اندازه ترویج او تعمیم کړه.

درمانتسیزم تعریف : - رمانتسیزم دا تلسمې پیړۍ د وروستیو او د نولسمې پیړۍ دلومړیو وختو نهضت دی چه په ادب - فلسفه - هنر - مذهب او سیاست کښې د پخوانیو شکلونو پر ضد یو عکس العمل بلل کیږی. که څه هم درمانتسیزم د پاره یو مشخص او دډاډ وړ تعریف نشو موندلی - خوسره له دې ادیبانو او پوهانو زیار ایستلی دی چه د رمانتسیزم مهم خواص په لنډو الفاظو بیان کړی. ویکتور هوګو (Victor Hugo) د رمانتیك سترلار ښوونکی رمانتسیزم په خپله مشهوره جمله کښې داسې تعریف کړی دی: «لیبرالیزم په ادب کښې.» د ده مقصد له دې فقرې څخه د هنرمند او لیکوال ازادی وه د کلاسیسټانو له قواعدو او کنټرول څخه. هاینه (Heine) مشهور شاعر د جرمنی رمانتسیزم په ادب - لیکونو او ژوند کښې د منځنیو پیړیو راژوندی کول وبلل. مادام دوستال په خپل اثر «دالمان په باب» کښې لیکی:

«د رمانتیك کلمه چه په دې وروستیو وختو کښې دالمان ادبیاتو ته ورننوتی ده پر هغو اشعارو باندې اطلاق کیږی چه د شوالیه وواو د مسیحیت د داستانونو په باب ویل شوی وی.»

ستاندال د «راسین او شکسپیر» په کتاب کښې وایی - «رمانتیسم هغه فن دی چه د خلکو د دود نواو عقیدو په اوسنی وضعیت کښې - داسې ادبی آثار د هغو په لاس ورکوی چه دوی ترې حداکثر لذت واخلی. د دې په خلاف کلاسیسسم داسې ادبیات هغوی ته په لاس ورکوی چه د دوی نیکونو به ترې ډیر زیات خونداخیسته.»

ویکتورهوګود «بوللو» په مقدمه کښې وایی: «زه پوره نه پوهیزم چه کلاسیك ادبیات او رمانتیك ادبیات څه شی ته وایی. دومره پوهیږم چه ځینو کره کتونکو تصمیم نیولی دی چه دلرغونو پیړیو ادبی اثار کلاسیك و بولی او هغه اثار چه په نولسمه پیړۍ کښې منځ ته راغلی او په دې پیړۍ کښې به توسعه و مومی - د رمانتیك په نوم یاد کړی.»

الفرد دوموسه رمانتسیزم په ښکلو رمانتیك الفاظو تعریف کړی دی. دی وایی «رمانتسیزم لکه څنګه چه یې تاسې تصور کوی ء هغسې نه دی. رمانتسیزم هغه ستوری دی چه ژاړی او هغه باد دی چه زګیروی کوی - هغه مرغۍ ده چه دماغ خوشبویه کوی .....،.....،- قرمزی امید له زرګونو ډولو عشق سره - پرښته او مروارید - دولو سپینې جامې. ښاغلو! تاسو نه پوهیږی ء چه رمانتسیزم څومره ښکلی شی دی. رمانتسیزم یعنی له ستور و ډکه لا یتناهی فضا - یعنی هغه څه چه ګرم دی - هغه څه چه پرې شوی دی .... رمانتسیزم یعنی د خدای حکمت چه هغه څه چه اجرا کیږی په هندسی شکل اړوی او بیا د از موینې په مبهمه فضا کښې الوزی.» البته دا یو شاعرانه تعریف دی او شاعران پرې پوهیږی. مګر ادبی کره کتونکی قناعت او بسنه پرې نشی کولی. انګلیسی نقاد والټر پاټر Walter Pater رمانتسیزم د ښکلا او حیرانتیا مجموعه و بلله. د امریکایی پوه ډکټر هیج (Dr.F.H.Hedge) په عقیده د رمانتسیزم جوهر الهام دی چه مبدا یې په رمز او حیرت کښې ده. دیوه بل تعریف له مخی رمانتسیزم پر عقل او رسمی قواعد و (کلاسیسزم) او د حقیقت پر احساس - او ریالیزم باندې د تخیل غلبه ده.

دزده کوونکو دپاره به ښایی ترټولو غوره لارداوی چه یولړ رمانتیك خواص په نظر کښې ونیسی او دهغوله مخې د رمانتسیزم په باب یوه عمومی مفکوره په خپل ذهن کښی کښینوی. د رمانتسیزم عمومی خواص په لاندې ډول دی:

حساسیت- له پخوانو وختونو په تیره بیاله منځنیو پیړیو سره مینه او علاقه- ملی ماضی- نااشنا- محلی رنګونه- خاص ته پر عام باندې تر جیح ور کول- مسیحیت اوخیالی ارزو ګانې- مافوق الطبیعی- شپه-مرګ -تباهی- هدیره- شیطان - رؤیا او تحت الشعور - فردیت Individualism د طبیعت خوښول مخصوصاً په وحشیانه ډول - د کنیوالی ژوندستاینه (لکه دګولډسمیت Goldsmith په اثارو کښې چه لیدل کیږی)-په هنر او طبیعت کښې د وحشی- بی قاعدې یا نااشنا شیانو خوښول-بی کنټروله تخیلات-په بشری حقوقو کښې دغیرمدنی او «طبیعی» دلچسپیو تشویق (برنز Burns بایرون Byron)دحیواناتو له ژوند سره همدردی (کوپر Cowper) احساساتی مالیخولیاګرې(Gray)په افسانه کښې هیجانی روحیات (ریچارډسن Richardson) دعامیانه سندرو راغونډول او تقلید یې (سکاټ Scott، پیرسی Percy) دلرغونو سلتیك اوسکانډینیاوی کیسو اواد بیاتوخوښونه - له سپنسر Spenser شکسپیر Shakespeare اوملتن Milton سره علاقه .

رمانتیك قهرمان که ما لیخولیایی خود خواهی ولری یاله ژوند څخه ستړی وی یاد ټولنې په مقابل کښې سرکش او متمردوی- په هرحال مرموز انسان دی. شاعر هرڅه پخوا ګوری اوپخوانیوایی- هیجاناتو ته پرعقل اوخیال ته پرحقیقت ترجیح ورکوی -خپلې غوښتنې له ضرورت سره ګډوی. په سبك او تعبیر کښې رمانتسیزم له قواعدو او قرار داد و نو څخه ځان از ادوی تغنی Lyricism او بی اختیاری Spontaneity تائید وی . پر هنری خواصو د خیال پلواو ابهام پرده اچوی. مګردغه ټول خواص چه پورته وویل شول پر یوه ټاکلی وخت- یوه معینه ټولنه یاد کوم لیکوال پراثارو باندې ټول نشو تطبیقو لاې. در ما نتیك لیکوال اصلی مقصد داوچه له کلاسیسیزم سره مبارزه وکړی. (نوربیا)

دشجاعی ژباړه

یوهان ولف ګنګ ګویته

(۱۷٤۹ـ ۱۸۳۲)

Johan Wolfgang Goethe

ګویته دالمان دادب یوځلانده ستوری دی . دی دیوه نبوغ خاوندو اودادب په تولوڅانګو کښې یې څیړنې کړی دی. دی یواځې دغزل شوقمن نه وبلکه درومان لیکلو ښه قریحه اوښه ذوق یې هم درلود .لوی مفکر اونامتو ډرامه لیکونکی و. ګو یته به کله کله دعلم په باب هم ژورې مطا لعې او کتنې کولی . دده دغه لوی قدرت او ادبی لیاقت دد ې سبب شوچه د ولسونو او قومونو په زړونو کښې ځا ی ونیسی اوددوی په تمدن باندې ستره اغیزه و کړی. ده دخپلو افکارو په لړ کښې و کړای شوچه داسې یومنحصر بفرد او جامع تر کیب منځ ته راولی چه له یوې خوا دتورات اوهومر پخوانی او لرغونی افکار پکښې ځای کړی شوی وی اوله بلې خوا دشکسپیر اوختیځې نړۍ پراثارو او فکرونو مشتمل وی .

ګویته دخپل پلارپه لارښودنه دعقل له فلسفې سره تماس پیدا کړ اودمورد تلقین په سبب دیبه تیسم (۱) په بحر کښې ډوب شو . د ژوند په لومړنیوو ختو کښې داناګرسیون (۲) دشاعرانو په ډول یې اثارلیکل او وروسته دشتورم اودرنګ (۳)

---

(۱)ـ دخدای سره یوه محدوده مینه اوداددین اوایمان لرلو یوه فلسفه ده چه د زړه په باور اوایمان اکتفاکوی اوپه دوګما تیسم هم هغو مره ولاړه نه دی .

(۲)ـ داهغه اشعاراوشاعران دی چه ددوی اشعار اکثردمینی ـ شرابواوبزم لپاره ویل کیږی.

(۳) Stuvm په المانی کښې سخت باد ا وشمال ته وایی اوDrang زورکولواوقوت ته ویل کیږی .

طرفدارشو چه بیایې ډیر زرددوو مسلکواولارو واکی پخپل لاس ونیول .له دې څخه وروسته ګویته یو کلا سیکی شاعرشو د رومانتیسم نه یې وحشت پیدا کړ. له دې مسلك نه ډیرزرلرې شو او دریالیسم(۱) سره یې علاقه وموندله چه دنوی اوځوان نسل له خوا جوړ شوی اومنځ ته راغلی و. په پای کښې یې دنبوغغوټی له یوراز صوفیانه تمثیلی سبك سره وغوړیده .

دژوند دورې اومسافرتونه :

۱- دشتورم اودرنګ په وخت کښې : پوهان ولف ګنګ ګویته د۱۷٤۹ کال داګست دمیاشتې په اته ویشتمه نیټه په فرانکفورت ام مین کښې(۲)دنیاته راغی. دده پلار یودن کسپر ګویته (۳) دحقوقو ډاکټر اود د ربار مشاورو. دی یوډیر باکر کټره اوجدی سړی اوپه ترتیب اوتنظیم باندی مین و .

دګویته مور کاتارینا الیزابت تکستور دیوه والی لوروه ـ خندانه اودښا دزړه خاونده او د ژوند په یولړ فانتزایو بوخته ښځه وه . په لومړیو وختو کښې یې له خپلې خور کورنیلیا (٤) سره یوځای له خپل پلارڅخه زده کړه کوله. پهده باندې چه کوموشیانوډیره ستره اغیزه کړې ده هغه د فرانسویانو حملی اوددې شار تیول (فرانسوی تیاتر) اودپاچاتا جګذاری وه (ددوهم جوزف دتاجګذاری مراسم) ،

له ۱۷٦۵ څخه تر۱۷٦۸ پورې :

په دې موده کښې ګویته په لیب ژیګ (۵) کښې دحقوقوپه پوهنځی کښې تحصیل کاوه او کله کله یې دتیاتر اونند ارو سره هم علاقه پیدا کوله . په دې وخت کښې یې اثار دخمریه ـ عشقی او بزمی سبك دروحیې سره برا برو . دی

(۱)-Rialim (۲) Irank Furtam Main (۳) Johan Kasper Goethe
(٤) Kornelia (۵) Leibzig

دلته نا جوړه کیږی او بیرته خپل ملك ته راګرځي .) ١٧٧٠-١٧٧١) : په دی وخت کښې دی په شتراسبورګ (١) کښې پوهنځی پای ته رسوی له هیرد ر (٢) سره هم کتنه کوی په دې موده کښې دغه اثار او کسان دده په افکار وستراغیزه کوی: هومیر- شکسپیر- اوسیان - ملی اشعار- د پخوانی اسمان ادب - ګوتیك اوداسی نور. اوله خمریه اشعار ویا Anakreontik نه بیرته راګرځی.

له ١٧٧١ څخه تر ١٧٧٥ پورې : د ١٧٧١ کال داګست له میاشتې څخه د ١٧٧٢ دمی ترمیاشتې پورې په فرانکفورت کښې و. له دی میاشتې څخه وروسته د ١٧٧٢ کال دسپټمبر تر میاشتې پورې په ویخلدر کښې بوخت شو. او هلته یې له شارلوته بوف (٣) سره علاقه پیدا کړه بیا بیرته فرانکفورت ته راګرځی دلته دورتر (٤) اساس زدی - دګیوتخ اوفاوست (٥) - پلان جوړ وی . له «لیلی شیونه من» سره مینه کوی د لومړی ځل لپاره سویس ته یوسفر کوی او بیا د انګلستان له لارې بیرته وایمار (٦) ته راځی .

٢- ملاقات او کتنې : په ١٧٧٥ کښې وایمار ته رسیږی . دوایمار په سفر کښې له دغو کسانو سره لیدنه کتنه کوی : کارل اوګوست (٧) - لویز (٨) انا امالیا (٩) ویلند - شارلوته فون شین (١٠) مایورفون کنیبل (١١) اوڅو موده وروسته بیا له (١٢) هیردر سره هم کتنه کوی .

---

(١) Srallburg (٢) Charlotte Buffo, Herber (٣) Merter

(٤) Gotz او Faust دوه کتابونه دی . Weimar (٥)

(٦) Karl August (٦) Herzogin Luise Anna Amalia (٧)

(٧) دا یوه ګنده ښځه ده - چه یوې سلطنتي کورنۍ بوری مربوطه وه .

(٩) Charlotte von Stein د ګویته ډیره ښکلی معشوقه .

په ۱۷۷۹ع کال کښې دخصوصی مشاورپه حیث وګمارل شو. اوڅه موده وروسته یې دسویس خواته سفرو کړاوپه دې لاره کښې یې ددوهم جوزف له خوا ښه هر کلی وشو. په همدې وخت کښې یې دمیرمن شتین دمینې دنفوذ اوپاریدنې اغیزه ځینی اشعار وویل. له دې وروستی درسمی کارونو دزیاتوالی له کبله یې دشعر ویلو له پاره ډیر لزوخت درلود. خوپه همدې نزدې وختو کښې پرطبیعی علوموهم لګیاشو.

۳- د کلاسیك سبك تر پایه پورې: په دې وخت کښې یعنی د۱۷۸٦ع کال د سپتمبرله میاشتې څخه د ۱۷۸۸ ترجولایی پورې بې دایتالیې دسفردوره وه او دغه ځایونه یې ولیدل: کارلمس بالد- ویندیګ- روم- نیاپل- سسلی- روم د دوهم ځل له پاره او بیرته ویمارته راوګرځید. دروحیې اوفلسفې افکارو بیرته را ژوندی کیدل: په همدې وخت کښې یې د ځوانی افکارپیرته وربانديې اغیزه کوی اوهم دطبیعی علوموسره ډیره زیاته علاقه پیدا کوی اوپه همدې وحت کښې یې درې مهم کتابونه خلاصیږی اوپای ته رسیږی: افیګینه Iphigenie اګمونت Egmont اوتسو Tasoo له ۱۷۸۷ څخه تر ۱۷۹۰ پورې پر خپل لوی اثر ګوشن Goscben باندې کار کوی

(۱۷۸۸- ۱۷۹۰) : له میرمن شتین سره خپله علاقه شلوی. له عشق اومینې نه لرې ژوند کوی. خوبیا وروسته کرستیانه ولپیوس Christiane Vulpius دخپل ژوند یواځنی ملګرې بولی. په ۱۷۹۰ع کښې یې وینیدیګ نه یوسفرو کړ اوله ۱۷۹۱ع کال څخه راهیسې دیوه تیاترلارښوونکی اومشرو.

۱۸۰۵ پورې: په دې دوره کښې لویه واقعه له شیللرسره ده اشنایی او کلاسیك له ۱۷۹٤ څخه ادب دعروج وخت دی. په دې وخت کښې ده ځینی اثارلیکلی دی له

(1)- Major non Knedel

قصیدو څخه پر ته یې نور آثار لکه میرمن او دروتها. دویلهیم مایستر دډرامی لومړۍ برخه تقریباً پای ته رسوی او دفاوسټ لومړی ټوك هم خلاصوی. دفلسفی افکارو سره ډیره زیاته علاقه ساتی او په دې افکارو باندې زیاته کتنه او څیړنه کوی. په ۱۷۹۷ کښې ددریم ځل دپاره سویس ته ځی. په ۱۸۰۵ کښې یوه لویه واقعه پیښیږی چه په ده باندې زیات تاثیر لری او هغه دشیللر مرګ دی. دګویټه دژوند څلورمه برخه یاد زړښت او ناتوانۍ وختونه (۱۸۰۵-۱۸۲۳): دملی تحریکاتو او ولسی حرکتونو سره بیخی بی علاقې دی. یواځې دطبیعی علومود پوهنځی سره مینه کوی او هغه یې خوښیږی.

Farbenlehre درنګونو دڅرنګوالی په باب یوه مقاله لیکی. دبیوګرافی په لیکلو مابو ختیږی او دشرقی دیوانو او اثارو کتنه کوی. په ۱۸۲۳ کال کښې ایکرمن Eckermann دده کورته راځی او خبرې اترې ورسره کوی. څه موده وروسته خپل دوه نامتو کتابونه ویلهیم مایستر (دوهمه برخه) او فاوسټ (دوهمه پارچه) پای ته رسوی او د ۱۸۳۲ کال دمارچ په ۲۳ نیټه له جهان څخه سترګې پټوی او دغه ځلانده ستوری دادب له اسمانه کښته لویږی.

دګویټه بیوګرافی او خپل ژوند لیك:

ګویټه هغه یواځنی نامتو شاعر دی چه دخپل ژوند بیوګرافی یې په نظم لیکلی ده دده ټول اشعار او اثار موږ ته دده کرکټر ښودلای شی. دده له اثارو څخه دده افکار نظریات، داشعار وسبك، شخصی ژوند او احساسات پوره پوره څرګندیدای شی. خو بیا هم داشیان تقریباً په ظاهری صورت ښکاری ځکه تر څو چه سړی دیوه شاعر او یا لیکوال دژوند او حقیقی څرنګوالی نه خبر نه شی دهغه په افکارو یا دهغه په پیژندلو کښې حتمی سهوې او غلطۍ کوی په تیره بیا دیوه شاعر د اشعارو په باب

پوره نظریه نشي ور کولای. بنایي همدادلیل وی چه ګویتهخپله بیوګرافي پخپل قلم لیکلی ده . دبیوګرافي اثاروپه لړ کښې دغه کتابونه راځي :

زماله ژوندنه:(شعراوحقیقت).له ۱۸۱۱ څخه تر۱۸۲۲ پورې ګویته:وړ کتوب له وخت نه دخپل ژوند دبیوګرافي په لیکلوشروع کوی اودویماردسفر تروخته پورې یې رسوی . دا شاعرلیکی چه څنګه یې دیوه انسان پهحیث ژوند کړی دی سختي، بدې اوښې خاطرې لیکی اودایی چه څنګه یې دیوه شاعرپه حیث وده کړی ده . په دې برخه کښې دی غواړی چه دیوه انسان وده دټولونورو انسانانو په نسبت وښیی اویا داچه په یوه اجتماع کښې دیوه شخصیت دودې څر نګوالی ښکاره کاندی چهپه یوه ټاکلی محیط کښې ترمعینو اوټاکلوشرایطواو عواملو لاندې لوی شوی دی له دې کبله دده بیوګرافي لیکنیورازتیپیک(۱) کرکټر څرګندکړی دی اوپه همدې لحاظ دابوهنری اثربلل کیږی ځکه نوباید همدا نوم وزته ورکړو یعنی «شعراو حقیقت» یی وبولو.

دایټالیې سفر : له ۱۸۱۳ څخه تر ۱۸۱۷ پورې یې«زماله ژوندنه» اثرخلاص کړ . په دې ترڅ کښې یې د ویمار دلس کلنې دورې سفر نه دی لیکلی ځکه چه دلته دځینو نورو بیلو بیلو اثارو په لیکلو بوخت شوی‌او ځینی شخصی‌افکار یې د ځینو خلکو په باب‌لیکلی دی .

دسویس سفر چه په ۱۷۹۷ کښی یې کړی و : ویمارته یو ډیر ښکلی سفر کوی اوښې خاطرې ترې اخلی .

د ماینځ د ښار محاصره Die Belogerung Von Mainz ، سره له دې دهمدې کتاب په تعقیب دهغه سفر ورځنی واقعات لیکی چهله ایټالیې نه بیرته

(۱) - Typisch

راګرځیدلی و . دا کار تر ۱۸۲۲ پورې دوام کوی . د ګویټه دبیو ګرافی او اثار وله پاره چه کوم شی ډیر ضروری بلل کیږی هغه ځینی لیکو نه دی چه دده په نامه راغلی دی . په تیره بیا دغه لیکونه دیادولو وړدی : دهغو لیکونو لیږل او رالیږل چه دشیللراو دده تر منځ شو ی د ی .

دایکر من خبرې له ګویټه سره .

ګویټه یو احساساتی خیالی او قصیده لیکونکی شاعر :

دګویټه احساساتی اوخیالی اشعار او قصیدې دی چه پرله پسی نه دی لیکل شوی .

کوم شیان چه دده خیال کښی ګرځیدل اواحساسات یې ورپا رول هغه ټول یې دشعر په رنګ لیکل . ده دوخت اوزمان سره مطابق ډیر عالی اشعار ویل یعنی دوخت او زمانې مراعات دده دشعراو افکار ومهم خصوصیت و . دده اکثر او حتی ټول اشعار په همدې راز مفکورو پوری متعلق دی . ددې راز اشعارو منبع خپله دده زړه دی خو هغه حقیقت پوره او څرګند ډول نشی ویلای یواځې احساسات پاروی ځکه د ی هم خپل احساس لیکی .

دګویټه داراز اشعار دشتورم اودرنګ په دوره کښې :

په لیب څیګ (۱) کښې یې داشعارو یوه مجموعه د انیته Anette او نوی اشعارو په نامه جوړه کړه . دډول اواصلی مقصدله مخې دAnakriontik یا خمریه او عشقی اشعار ورنګ لری چه و روستنو شاعرانو یې هم ساری او نظیرونه شو لیکلای یعنی په خپل حیثیت پاتې شو اوچابیا دغه راز اشعارونه شو ویلای .

په شترا سبورګ کښې یې دفریدریك اشعارو په نامه یوه مجموعه تمامه کړه

(۱) دڅیګ په کلمه کښی (څ) په څرګند د ول په الما نی ژبه کښی شته او په همدی راز ویل کیږی نوځکه یی په (ز) اویا (س) لیکل غلط دی .

چه په ښکاره ډول اوله ډیرو خواوو د پورتنی سبك تراغیزې لاندې ده . له بلی خوا دا اشعارداهم ښیی چه د شاعر خیالات ددې سبك څخه اوښتی او دملی ادب خواته یې پوره پاملرنه شوې ده د مقصد له مخې په دې اشعارو کښې ګویته شخصی ژوند او احساساتو باندې خپل افکار بیان کړی دی . همدارنګ دادرې مشهور اشعار یې هم په همدې دوره کښې لیکلی دی :

هر کله راشی او خدای په امان(١) یوه رسم شوې دسته ، دما یلیدشعر (٢)په فرانکفورت کښې یی دلیلیی(سوسن)اشعار . ولیکل چه په دې کښې Anakriontik له سبك نه بیخی وتلی او دشترا سبورګ دمسلك تابع ګرځیدلی دی . پرته له دې یې قصیدې ـ غزلې او ..... هم لیکلی دی . چه په پټ ډول دانسانی شخصیت دمقام نما نځنه کوی او غواړی چه باید په لازمه اندازه دې ورته پاملرنه وشی. هغه اشعار دا دی :

(ادلر او کوتره ـ دکرونوس په نامه ـ

دمحمدشعر ـ خدای ته نژدی شخصیت).

د ما حول تاثیر :

دمیرمن شتین دکتلو په اغیزو یوراز آرامی په ګویته کښې پیدا شوه . دده ډیرزیات نیمګړی اشعارپوره او په پوره اشعارو پسی لاهم زیات شول . دده ډیر اشعار دخدای دقدرت اودانسانی ژوند په باب لیکل شوی دی چه دلوی خدای په نامه هر ښه شی بو له کومې کمی اوزیاتی نه صدقه ور کوی هغه اشعار دادی :

دانسانیت حدود ـ خدایی ـ زماخدای ـ همدا رنګه ګویته په دې اشعارو کښې دخبرو اولیکلو بدلون او تغیر ښیی په تیره بیا په دې لاندنیو اثارو کښې: « دبیړی

Willkommen und Abschied(١) Mailied(٢)

سفر»، این ګلیښ (١) دخپل مصروفیت او رسمی کارنه دتیښتې لاره پیدا کوی او غواړی چه په اصطلاح بیغمه ژوند وکړی اوله طبیعت سره ډیر نژدې شی او طبیعی ژوند اختیار کړی په دې باب یې داشعر لیکلی دی : دیوه پردیسی دشپې فریاد . په هغه وخت کښی چه دی له شتاوب یخ نه د دوهم ځل له پاره سو یس ته ځی داشعر لیکی :

«په اوبو باندې داروا حوسندې»

دسر دارانو اوپا چاهانودتماس اواغیزوپه وجه یې داخلاقی - روحی اوفکری تکامل او دې په باب خپل دا لاندنی اشعار وړاندې کوی . «ایلمیناو» . دغه قصیدې یې هم عاشقانه اوخیالی رنګ لری :«ایرل کیورنګ» -«ماهیګیر» -دیر کیونیګ این تولی (٢)

دکلاسیکی دورې ختم، کله چه ګویټه د ایتالیې له سفر څخه بیرته راګرځی دادب په ساحه کښې دظریفانه اشعارو سبك رواج موندلی و . اودوخت اوزمانې دډیرو پخوانیو اثارو اویاد ګارو اودښو شیانو دیادولواوپه دې باب کښې داشعارو ویل ډیر مقبول و و . ګویټه هم په دې ترڅ کښې دا لاندنی اشعارویلی دی :

خیالی ایلیګین - اول فیروزینه - اپیلوګ او د شیللر ز نګ - مالیا تی حسی اشعار (؟) چه ټول اشعار دیوه راز خیالی اوفکری اشعارودسبك تر اغیزې لاندې هم دی دا اشعار اوز دهنه دی او داستان هم لنډ او ذهن ته ډیرزر انتقال موندلای شی . ګویټه وروسته ترهغه چه دشیللر سره یې وکتل (١١٤) شعر ه یې و و یل

(١) داتوری چه تاسو یی دکلیښ په کلمه کښی وینی، کټ مټ د پښتو د(ښ) توری د ی چه پهمدې رازپه المانی ژبه کښی لیدل کیږی اوهغه لهجوي توپیر پکښی لیدل کیږی لکه چه دافغانستان په بیلو بیلو برخو کښی شته لکه (ښ)- (خ) - (ش)

(٢) Der Konig in Thule

چه ټول یو په هجوامیزه ډول دی اودا راز هجوامیزه اشعار په مجموعی صورت دالمان دادب دهمدې وخت سبك تشکیلوی . ددې وخت په قصاید و کښی دشیللر دافکارو په اغیزه دتازه اوسمسور طبیعت اوپه دې هکله داشعارو ویلو په ځای یوه نوی مفکوره منځ ته راغله چه په دې اساس یې ۱۷۹۷ ع کال د قصید و تاریخی دوروباله اوداد یاد ولووړ قصیدې پکښې د ډیر اهمیت خاوندې دی هغه دادی: سند رغاړی ـ زاخ کریبر ـ جادوګر زده کونکی ـ بدلیدونکی زنګ ـ وفا داره ایکا رت او کورنیت پیغله .

داسبك اودګو یته زوړ وا لې : په دې وخت کښې رو مانتیك د المان په ادب باندې ډیر تأ ثیر کوی . ددې وخت ډیر نامتو اولوې اثر دشرقی دیوان په نامه یو کتاب دی چه په کال ۱۸۱۹ کښی لیکل شوی دی چه یو څه بې د ځینو اشعارو ترجمه ده او څه برخه یې د شرقی اشعارو رنګ لری . په دې زمانه کښې نور کتابونه هم منځ ته راغلی خوتر ټولو مهم دګویته د فاوست وروستی پاړچه ده چه د فاوست دمړ ینې برخه ده اوټول په قصیدی ـ احساساتی اوخیالی اشعارو ویل شوی دی. په همدې وخت کښی قافیه لرونکی اشعار هم ویل شوی دی .

ګویته اوښځې : کوهی ښځې چه ګویته ورسره لیدنې کتنې کړی. مینه یې ورسره کړی اوپه ګویته باندی یې اغیزې کړی دی هغه دا دی :

کیتښن شیونکوپف Kathchen Schönkopf دا ښځه په لیب څیګ کښې وه . له دې سره دیوې زر سو ځیدونکی مینې په اغیزې ګو یته ډ یر زیات اشعار وویل چه دلیب څیګ داشعار و د کتاب په نامه یاد یږې (انیته ـ نو ی اشعار) دمعشوقې کیف دهمدې وخت له ډیرو زبردستو اشعارو څخه دی .

فرید ریکی او یسار (۱): دلیب څیګ دوخت یوه دحسن موډل وه چه د احساساتی اشعار و خیالی اندازو باعث شوه.

زوزانی فون کلیتن بیرګ Susanne von Klettenberg : دفرانکفورت دیوې کورنۍ نه دده یوه معشوقه وه چه ددې د معاشرت په اغیزه ګویټه دپیه تیسم له فلسفې سره ښه اشناشو اودا شعریې ووایه: دیوه ښکلی روح سره اشنایی او یارانه. فرید ریکی بریون Friederike Brion : دیوه بزګرلوروه چه په زیزن هایم Sesenheim کښې او سیده. او دشتراسبورك Strassburg دپوهنځی محصلین یې ټول دفریدریك له اشعارو سره اشنا کړل، چه ددې په اغیزه دا اشعار وویل شول: طبیعت ماته څومره ښکلی ښکاری - وړوکی ګلان وړې پاڼې - زمازړه په درزا راغلی - په اس تیښته - او بیا ورسته د همدې پیغلې اغیزه په دې اشعارو هم موجوده وه. په ګیو تڅ - په «کلوویګو» Clovigo او په «شتیلا» Stella - شارلوته بوف Charlotte Buff: ددې په اغیزې ګویټه ددې اشعارو ویلوته مجبور شو: د ځلمی ورتر احساسات او ادلراو کوتره

انا الیزابت (لیلی) شیونه من Anna Elisabeth (Lili) Schönemann : دشاعر معشوقه ده چه په فرانکفورت کښې ورسره اشناشو او دومره یې په مینې وسوځید چه د «لیلی اشعارو» په نامه یې یوشعر ووایه. په همدې وخت کښې دالاندنی اشعار هم ویل شوی دی: نوی ژوند نوی اشعار - لیلی پارك Lili Park په بحر باندې اوداسې نور لکه د بنفشې ګل.

ښارلوته فون شتین Chrlottevon Stein دویمار دسفر په لس کلنه دوره کښې د ګویټه

(۱) Friederike Oesar : وایی چه دا پیغله بی حده ښکلی وه خو ګویټه ډیر زرخوشی کړه یوا ځې یوه خطرناکه اوسو ځیدونکی خاطره ورسره پاتی شوه.

ډیره ښکلی اودزړه له کومې معشو قه وه . اودهمدې پیغلې په اغیزې دګویټه اشعارو ډیره ترقی و کړه اودشعر نړۍ یې پراخه شوه دهمدې مینې اوسوځندو جفا کاریو او له خاطر وډ کووفاګانو ددې لاندنیو کتابو دلیکلولوی د لېل دی (۱) : خور کی ملګرې Gesch Wister ایفی ګینیه Iphigenie تو ر کو اتو تسو Torquato Tasso کر یستیا نې و و لپیو س Christiane Vulpius : ګویټه ددې سر ه د یو ې مینې په خاطر یوډیر عالی شعر ویلی دی چه د « زه ځم ځنګله ته ـ ته ماته لاره و ښیه » په نامه یادیږی او دې سره یو بل شعر .

مینا هیرڅ لیب Minna Herzlieb : د انجلۍ موږ په دې لاندی شعر کښې پوره پیژندلای شو او د دې مینه دلته ښکاری : Wahlverwandtschaften ماریانی ویلی میر Marianne Willemer : دا ښځه یې په ختیځ لویدیځ دیوان کښې دزلیخا په نامه یاده کړې ده .

اولر یکی فون لیو یت څوو Ulrikevon Levetzow : دګویټه وروستۍ تراژیدی اوغمز پلې مینه له همدې نجلۍ سره وه اوله ډ یرو خطر نا کو اوناوړو روحی هیجانو څخه چه له دې ښځی څخه ورته پیداشوی وو ددې لاندې شعر په ویلو یې ځان تری خلاص کړ هغه شعر دادی : مارین بادیر ایلیګیی Marien bader Elegie

دګویټه ډراماتیکی شخصیت :

په لیب څیګ کښی (۱۷۶۵ - ۱۷۶۸) : په دې وخت کښې یې خپلې لومړنۍ ډرامې لیکلی دی ګویټه دفرانسوی اثارو اوافکارو تر تأثیر لاندې واوخپل آثاریې هم په فرانسوی ډول اوسبك لیکلی دی په دې وخت کښې یې ډراماتیکی تبوغ نه درلود ، اودشپنو داشعارو تراغیزی لاندې و . دده یوه مهمه ډرامه د « یوه لوی اعتراف

(۱) Geochwioter خو ر او ور ور یاد وو خو یند وې . ته ـ

ماتول» په نامه لیکل شوی ده اودا کتاب دیوې شخصی مینې او تأثیر له مخې لیکل شوی دی. په دې ډرامې کښې شاعرخو شبختی- نیکمرغی او سعادت له ځانه بهر او په ماحول کښې نه لټوی بلکه یخپل زړه کښې یې لټوی.

په یوه بله ډرامه کښې ګویته غواړی داخبره ثابته کړی چه دانسانی شخصیت وجود او هستی دمیل خواته تاوسه کوې خو باید چه انسان دوظیفې تقدس ته قایل وی او باید څنګه په دې جګړی کښې ګیرشوی انسان وبښل شی. ددې اثر نوم «دیوه مجرم مرستونکی یادیوه مجرم سره جرم یاد ګناه ګار سره ګناه ګاریدل دی Mitschuldigen».

دفرانکفورت دوره (۱۷۷۱-۱۷۷۵) : په دی وخت کښې ګویته لادشتورم او درنګ ترتاثیر لاندې واو همدارنګه دهیردر او شکسپیر اثاروهم پرې اغیزه کړې وه. په عمومی او اساسی ډول یې عشقی او هغه ډول اشعار وویل چه په ساز ویل کیدل یعنی تصنیفی او عشقی اشعار واوډرامې. بیادی له فرانسی نه بیر ته راګرځی.

دا لاندې کتابونه او اثاریې دیادونې وړدی: دویلاند بتان او سرداران - د ځنګله شیطان اوله خدایه شړلی شیطان - پاتر بریی Pater Brey د کال دلوړی ورځې جشن - کله ویګو - شتیلا - ایروین او ایلسیر - کلاود ینی فون ویلا بیللا Claudine Von Villabella فراکمینت نیمګړی اثار یاټوټې، ټوټې لیکنې Fragment له ټولو مهم اثر اوډ رامه چه په دې وخت کښی لیکل شوی او جهانی شهرت لری د ګو تس فون بریښینګن Götz Von Berlichingen په نامه یادیږی.

دا یوه ډرامه ده چه د کومیډی او تراژیدی ترمنځ لیکل شوې ده دې راز ډ رامو

ته په المانی کښې (۱) Schauspiel وایی دا ډرامه په پنځو پر دو کښې لیکل شوی او د لیکلو کال یې ۱۷۷۳ دی .

د ډرام د کار پیل : په ۱۷۷۱ کښې بی مفکوره ورته پیدا شوه او تر هغه ورسته ورباندې کار و شو .

د ډرام محرك او علت: دالمان منځنی پیړی په هکله د ګویټه تعصب ددې ډرام لوی محرك و .

الهام : د فرانسوي جګړن ګوت فرید فون پریښنګن بیوګرافی چه له ۴۱۸ ته تر ۱۵۶۲ پوری یې ژوند کاوه . دا کتاب په ۱۷۳۱ ع کښی چاپ شوی او د ګویټه د ډرامی منبع هم دغه کتاب دی. یعنی ګویټه د ډرامې د لیکلو له پاره ددې کتاب څخه الهام اخستی دی . (نوربیا)

---

(۱) Schauspiel: ، هغو ډرامو ته وایی چه یو شاعر یا ډرامه لیکونکی پخپل ډرام کښی د ډرام هیرو په سختو ربړو اخته کوی . هیرو له مشکلاتو سره مبارزه کوی او بریالی کیږی . یعنی دا راز ډرامی په سر کښې کومیډی په منځنی ؛ خه کښې پوره تراژیدی وی او په اخره کښې هیرو خپل مقصد ته رسیږی او بریالی کیږی . (مترجم)

لیکونکی : ګل محمد نورزی

دپردیس سوغات

دمنی وروستی ورځې وې . سوړ بادلګیده . شیبه په شیبه یخنی خپل وزرونه په لوړو ژورو او ارول . وریځو وار په وار لکه مست هاتیان یوله بـله مټونـه وهل . بیګانی او رښت دسیلاب او به زیاتې کړی وې . دتلو راتلو لاریې-تړلې وه . ګهیځ وختی چه دغرونو څنډی لږې رڼا شوې . لوی واړه دسیلاب ننداري ته راکوز شول.دسیلاب څپو به کله کله دجوس لمن کلکه ونیوله په ډیر قهر او زوږ سره به یې ترې کنډ کونه بیل کړل . دخلـکو فریادونـه ـ زاری وار په وار زیاتیدې چابه نذرونه کښیښول،څوك به لوڅ سرولاړوو . د«محشرصحنه» وه . سیلاب‌هم په ډیرې بې رحمی سره دجوس لمن ټولوله ، هر چا خپـل ورك کړی ځان لټاوه .

دکلی کوزې خوانه‌دبهیرشوراو زوږوء .چایوشی‌چابل‌شی په‌لاس کښې نیولی اریان ولاړووله یوې خوا خلکو دخپل غریب ژوند ، بد قسمته کال او دسیلاب بی‌رحمه څپې ژړولې له بلې خواد بهیر هله‌هله دخلـکومړه‌احساسات راپـارول. دچازوی دچا ورور دچا مین‌دهغه بهیر سره ملګری وو ـ دخواری اوغریبی له پاره بل وطن ته روان وو .

دانګولا ـ ژړا ـ فریاد سورو نارو زړونه سوری کول . مګر بیاهم په سرو

سترګو یوله بله بیل شوو . کرۍ ورځ موپه وچو دښتونو کښې مزل وکړ. کله وریځ ـ کله شین . باد په ډیرې بې رحمۍ سره د ټولو په مخ څپیړې وهلې . ورځ پا ی ته ورسیده لمر خپلی زرینې وړانګې داخری ځل له پاره زموږ بهیر ته را واستولې اوبیایې مخ پټ کړ . په کائناتو توره پرده راخپره شوه کاڼو بوټوورو ورو خپله څیره بدلوله .

بهیر زنو به کله کله غلی یو بل ته وویل :«شپه خو راغله دباران څاڅکی هم کله کله را شروع شی . تیاره زیاته شوه ، آیانه موده خوښه چه همدلته پاتـی شو ؟» نورو به داخبره ډیرزر ور وګرځوله : .«نه ـ نه هلکه په دې تور غره کښې څه کوو . خامخا به نن شپه مزل کوو چه لارلږه لنډه شی . سباګوندې وختی ابادۍ ته ورسیږو» شپه ټوله په مزله تیره شوه داسی تیره شو چه دهیچا به په چاونه لوریزی .

سپیدې وچاو دې لمر بیا خپل طلائی مخ دتورې پردې څخه راڅرګند کړ . ورځ راغله بهیر لاهغسې خپله لار لنډوله . داورځ هم نیمائی ته رسیدلی وه ان ټکنده غرمه وه چه ابادۍ ته ورسیدو . څو پاه دمخه ولاړو دیونا اشنا کلی په څنګ کښې مود یوې لویې ویالې په غاړه دچای ـ او بو ، خوراك څښاك له پاره اوښان واړول .

په ډیرومنډومو ها خوا دیخوا یو غیږ لرګی برابر کړل . دډوډۍ په پخولو موپیل وکړ . زمونږ دبهیر مشرانو به کرارڅنګو نه لګولی وو دم په دم به تود چای وررسیده . په دې بهیر کښې یوازې زه او زما ملګری چه دعمره کشـروو دخبرو اوفرمایش مخ ټول موږ ته و . ستونځه ضعف له یوې خوا ، امر اوفرمایش له بلې خوا اما هرڅه چه وو زمونږ په ستړی وجود و وو . ان تر مازدیګره پورې مودخلکو په خدمت کښې هاخوا دیخوامنډې ووهلې . مازدیګر بیا بهیر بار شو . اوس نواوښانو خیټې مړې کړی وې په ډیره بیړه سره یې لارلنډوله . ورځ تمامه شوه لمر بیاخپل ځان

دسالنگ دره (دمطبوعاتو عکاسی)

په توره برستن کښې و نغښت . شپه شوه بهیر په چپه خوله روان وو یوازې داوښانو دګنګړیو آواز شیبه په شیبه اوریدل کیده. هرسړی خپله ګټه اوزیان سنجول او هغه ئې پهتله تلل په دې چپه چپتیا کښې به بهیرز نو کله کله خوږې نغمې غږولې ولې ډیر زر به دیخنۍ له لاسه په تنګ شول هغه خوږې نغمې به یې کرارې کړې بیا به چپه چپتیا شوه.

داشپه هم ټوله په مزله کښې تیره شوه ورځ موهم مزل و کړ ـد ورځې په پای کښې دلمرخاته خوانه دهغه لوی ښار ښکلی ښکلې له ور ایه څرګندې شوې. په زړو نو کښې خوشحالی راویښه شوه ـ زما ملګری ماته مخ کړ.

په نیولی آوازې وویل: «وروره ! اوس ښارته ډیره لږه لارپاتې ده زه به له تابیل شم ځکه تاسی برابر ښارته ځئ... څه به خرخوئی او ډیر نوی نوی شیان به اخلئ مګرما خوویني چه زه په غریبی پسې راوتلی یم وار له واره زماتګ ښارته څه ضرور دی لومړی به د ښار شاو خوا کلی ښه ولټوم ګوندې یوه ښه خواری پیدا کړم. یاره وروره! ګوره که خدای ښه خواری راپیدا کړه څومره به د خوشحالی ورځ وی! زما درپه در ژوند خونه وینې !!

ګوره دالو مړی ځل دی چه زه خپل ژوند کښې پر دی وطن ته دخواری له یاره ملا تړم وروره! نه پوهیږم چه زما کار به څنګه شی. سږ کال خوډیر سپیره کال دی. داوچ بادونه خوګوره! یاره خدای ښه پوهیږی چه چیر ته ښه خواری پیداشی که نه ولی څه و کړم کور کښې هم نور هیڅ دتمې لورې درك نه و. خو په هرصورت وروره ته ولاړ شه ښار ته زه به هغه بر کلی ته شپه یوسم. که ژوندوی ګوندې بیا به سره ووینو.» د توتی په ستر ګو کښې او ښکی ډنډ ودر یدې. یوه خوا بله خوا یې په بیړه بیړه و کتل زر یې د خپلې شکید لی لمن یوه تړانګه

راپورته کړه‌سترګې بې پاکې کړې دډیره شرمه یې رنګ سورسپین شو. لږیې زړه راجمع کړ به مسکو شونډ ویې وویل:« کسه ملګر یه! زه وار خطانه یم هسې مې زړه راډك شو. ګوره ملګریه ! که چیرې په‌خیر سره کلی ته ولاړې زما زړې مور او ګرانې محبوبې ته به ډیره ډاډ ګیرنه ورکوې. ورته وا یې به چه‌توتی بنه خواری‌پیدا کړې وه » بیایې په سپینوو چوغو مبرو داو ښکو سلسله روانه شوه په چپه خوله په داسې حال کښې چه‌په کین لاس یې‌په شاپیټی نیولی ؤ په ښی لاس‌یې‌راسره خدای‌په‌امانی واخیسته .

دقطب خوا ته په سلګیو سلګیو کښې روان شو. دادوهم ماښام وچه‌ما دتوتی سره یوځای تیر کړ ـ توتی په ډیرزحمت تیرما سخوتن دهغه بر کلی جو مات ته ځان برابر کړ. د کلی خلك ټول کوروته ننوتلی ویو خوابله خوایې ډیرې سترګې‌وغړولې آخر یې هیله نهیله شوه . د جومات په کونج کښې دیروځو په سر پریوت .

لوږه ـ ستونزه ـ بیلتون اودژمی سړه شپه ټول دتوتی د«خوب» ملګر ی شول شپه وه راغله تیره شوه دشپې لایوه برخه‌پاتې وه چه دکلی ملا صاحب په ډیر قهر سره دجومات ورپورې واهه په یوه وچ اواز بې وویل« هلکومسافرو! پورته شیء دخدای یاد خو هیڅ درسره نشته شپه ورځ موخو بوته اړولی دی. وخوریء وخښیء بیده شیء اخرتر څوبه‌دا غفلت وی. جګ شیء لږ خدای یاد کړیء ....» توتی تمامه شپه دنیم بسمل‌مرغه په شان‌په یولټ اوبل لټ‌اووښت یوه‌ګړی دمخه یې سترګې پټې شوې وې د ملا صاحب په چیغو پسی را ویښ شو . ملا صاحب بیا په قهر سره وویل «مسافرو! که داځل

پور ته نشوئ نوهغه لوړخو وینئ له یوه سره به یې په تا سې ټو ټه ټو ټه کړم نورمو اختیار.»

توتی په ماتو غړو پورته شو د جومات وربې خلاص کړ. اسمان دستو رو څخه ډك اویوبل ته یې سترګې ځمبلې. توتی حیران حیران یوه خوا بله خو او کتل بالاخره مجبور شو په هغه لړزیدلی وجود یې لکه خز ان وهلی پاڼه دډنډ یخ مات کړ. مخ لاسونه یې ومینځل جومات ته راستون شو. ان نرلمرخاته پورې قبلی ته په دوو پښو ناست ود کلی خلك به یویو راتلل څوك به د ملا صاحب تر شا کښینستل، دلمرختو په انتظار به وو څوك به دلمانځه نه پس خپلو کوروته ستانه شو ل. توتی یوه خوا بله دسترګو له کنجونه د کلی خلکو ته کتل ولې یوه هم دمسافرو پوښتنه ونکړه. په توتی هم دلوږې غلبه زیاته شوه غلی ملاصاحب ته ورنژدې شو اورته ویې ویل. «ملاصاحب زه خو مسافریم په خوارۍ پسې راوتلی یم بیګاه ډیرنا وخت دلته را ورسیدم. دادوې ورځې کیږی چه هیڅ می نه دی خوړلی. ګوره که لږ مهربانه شې چه په دې خلکو باندې لږه ډوډۍ راوغواړې.» ملاصاحب سر وښوراوه «توبه توبه! هلکو مسافرو ستاسې له لاسه به زه دوزخ ته ولاړشم. دخدای یادته خو څوك نه پریږدئ عمرمود خیټې په غم کښې تیر شو اوس څنګ ته شه بیا به وروسته خبرې کوو.»

توتی په ژړ رنګ دچرګۍ غاړې ته را نږدې شو. انتظار-انتظار انتظار. بالاخره ورځ توده غوندې شوه جومات نه راووت دیوه اوبل څخه یې د کار او خوارۍ پوښتنه کوله. اوس ورځ پوره توده شوې وه. ملاصاحب د کوره راووت دپوستین یوه څنډه یې په مځکه څکیده بله څنډه یې لږ شان جګه ولاړه وه ټټر یې دژمی بادته لوڅ کړی و. په لوړ اواز یې وویل: «هلکانو څوك شته یې ئ که نه راشئ چه سبقونه در کړم. هله بیړه کوئ چه بیا داوداسه او نفلو ناوخته کیږی» څودقیقی غلی شو یو خوا بله خوا یې

درکنی شروع کړ کله خپلې زیرې ته لاس واچوی او کله پګړی پورته کړی خپل سرتینګ تینګ وګر وی . په زړه یې دچرتونو حمله رابر ابره شوه په لوړ آوازیې وویل :

درین دنیا کسی بیغم نباشد
اګر با شد بنی آدم نباشد

توتی بیا په ماتو عړو پیتاوی ته د ملاصاحب خواته ورنژدې شو سلام یې واچاوه «ملاصاحب ! زه مسافریم په خواری پسې راغلی یم کوم کار به نه وی درته معلوم بله داچه وزی یم لږه ډوډی به نه وی پاتی؟» ملا صاحب په ګیډه لاس تیر کړ ویې خندل. توتی ته یې مخ راوګرځاوه «ځوانه د ډوډی وخت خوتیر شوی دی اوس خو نیمه غرمه ده بیاسې کال اوخواری ؟ باباخلك په ځان پورې اریان دی ته کاروونه غواړې. دا کوشښ و کړه چه فقط خیټه دې واړه وې .»

« ملاصاحب ډیرپو روډی یم په کور کښې یوازې یوه کنډه موراو یوه واده لرم بس. نورهیڅ دامید ستر که نشته. » ملاصاحب یوه خوا بله د جوس سیمې ته و کتل خدای بنه پوهیږی چه د چرت نیلی ئی په کوم ځای کښې ته وپو نه وهل اخریې توتی ته مخ راوګرځاوه د ځان سره وغوریده «هلکه مسافره! ولی می فارغه نه پریږدې. ګوره هلکه که بیاهیڅ نه دریږې خواری غواړې نوزه به یې درته پیدا کړم. خو په دې شرط چه پیسې و نه غواړې خوراك به بنه در رسیږی نور له خدایه څه غواړې » په توتی دژو ند صحنه دومره راتنګه شوې وه نوریی هیڅ و نه ویلای شول په نیولی آوازیی وویل :«ملاصاحب زه بدیووار هاخوادیخوا وګرځم که چیرې خواری هیڅ پیدا نشوه بیا به نودلته راشم. اوس نودخدای په امان »توتی هغه پیتاوی نه راستون شو پیټکی یې په شا کړ دلمرخاته خوانه کوږشودیوې کندې نه بلې کندې ته ان ترماښام پورې

یې مزل وکړ. دلرې نه یې یوسپین کلی دیوې جګی غونډۍ په سر ولید په زړه کښې یې خوشحالۍ ټوپونه ووهل. قدمونه یې اوچت کړل. کله منډه کله تیز تګ ایله دومره یې وکړای شول چه دماښام لمانځه وروستی رکعت ته یې ځان ورساوه. توتی پاتې لمانځه ته ادامه ورکړه کلیوالو لمانځونه خلاص کړل دڅادرونو ټک ټوک پورته شو هریو به چه دتوتی ترڅنګ تیریده — برند برند به یې ورته وکتل څادر به یې ټک واهه اولاړ به. توتی په بیړه لمونځ خلاص کړ د جوماتمټی ته یې خپل پیټکی را نزدې کړ.

غلی کیناست. خلک وار په وار کمیدل ځوانانو د چلم نه حلقه تاو کړه ټوکې مسخری اوخندایې شروع کړې. توتی ته دتیرو موسمونو خاطرې ورپه زړه شوې هر څه چه یې زړه راټینګ کړ بیایې هم زړه صبر ونه کړ. د ځوانانو ټولی ته ور پورته شو. څوپله لرې ترې کیناست، ځوانانو توتی ته مخ کړ «ملګریه! ته هم چلم کښ یې؟» توتی په نیولی آواز وویل: «هوورونو».

ځوانانو چلم توتی ته پریښود توتی ددووشپو ورځو روژه په خښه ګیډه سره دچلم په لوګی ماته کړه. دچلم نه لږ څه بیرته شو. د دیوال څنډلی ته یې تکیه وکړه. دچرت په سیند کښې لاهوشو. په دې منځ کښې یوه زلمی ږغ کړ «ځی ء چه ځوزه به مسافر ته مړی راټوله کړم تاسې کوروته ولاړ شی ء چه ناوخته دی» توتی نابیره شو ټول چرتو نه یوه خوابله خواټیټ شول اوس یو چرت هغه هم یوازې دډوډۍ چرته و یوه شیبه وروسته هغه زلمی په ښانګ کښې دډوډۍ ډول ډول پارچې راټولی کړې وې. دتوتی ترمخ یې کښیښوې توتی هم دخپل خوږمن زړګی ارمان ښه په ویوست په دوانه خوب ویده شو دڅوورځو شپولوږه او بی خوبی یې په داشپه ښه وایستله.

سهار بیارا پورته شو د کار او خوارۍ پوښتنه یې ها خوا دیخوا وکړه

په هغه کال دخوارۍ نه « کیمیا بوټی » جوړشوی وډیرې ورځې درپه در کلی په کلی جومات په جومات وګرځید هیڅ شی په لاس نه ورغلل له هرې خوا نا مید ه شو دشپو شپو چرتونه وروسته یی دځان سره دافیصله و کړه چه راځه هغه سړی بیاوو ینه دپوه کاروعده یی راسره کړې وه ګوندې ښه کار راته پیدا کړی بیایې هغه لیدلی لارپه سترګو پټه کړه دشپی ناوخته دهغه کلی جومات ته راورسید شپه یې تیره کړه لمر چه لږ غوندې تود شو توتی بیادملاصاحب مخې ته ورغی :« ملاصاحب زه بیار اغلم هیڅ خواری نه شوه راته پیدا ناخوزه چه تلم دیو کار وعده دې را سره کړ ی وه څنګه هغه کار به اوس پیدا نه شی ؟» ملاصاحب په ډکه خوله وخندل «مسافره !زما خبری دې نه منلې ښه شوه چه ټول جهان دې په غړولو سترګو ولید. اوس خو هغه کار هم له لاسه تللی دی .ځه ولاړ شه زمونږ نه یې په کار »توتی هك پك ودرید خدای ښه پوهیږی چه څه چرت به یې واهه ملاصاحب څو دقیقې دځان سره کراره په کراره زمزمه کوله کله کله به یې توتی ته مخ کړ دده زبیښلی رنګ به یې سرتر پښو پورې په یوه نظر و کوت په پای کښې یې وویل: «هلکه زه به کار در ته پیدا کړم خو دا شرط به وی چه نقدې ر و پی نشو د ر کو لا ی .

ته به زموږ له پاره کار کوې .خو ګوره ښه تکړه کار. مونږ به ډوډۍ در کوو نور څه به نه وی که چیر ې پوره شپږ میاشتې دې زموږ سره تیرې کړ ې او موږ هم در څخه راضی وو نو یوه جوړه کالی به هم درته و کړو. څنګه دا خبره دې په زړه لګیږې ؟» توتی اریان اریان ملا صاحب ته کتل کله به یې سر کښته وا چاوه کله به یې په غلی نظر ملا صاحب ته و کتل « وایه هلکه!ولی غلی شوې؟ که نه زه ځم دا خبر ه دې خو ښه ده که نه » توتی په نیولی اواز وویل :«هو ـ که چیر ې تو ر کار او خوارۍ پیدا نشوه »ـ« نه نه ګو ره ـ دا خبره باید اوس

اوس ښه صفا کړو چه پهاخر کښې به هغه دغه نهوی ، ملا صاحب دجو مات خو اته ور کوز شو. توتې په هغه ځای کښې چه څو سا عته د مخه و لکه تیزه و چ کلك و چې شونډې ولا ړو. یوه خوابله خوا یې و کتل نور هیڅ په نظر نه ور غلل یو سو ړ او سیلی یې و کیښ . د صفې خواته و رنژد ې شو. پیټکی یې د پټکو لاندې کښیښود دهغه څنګ سره کښیناست ټو له ورځ یې یو بل ته په کتلو کتلو تیره کړ ه شپه را غله .توتی بیا خپل پیټکی په کو ت کښې ونیو په ماتو غړو جو مات ته ننوت .

دا شپه هم دنو رو شپو په شان تیره شوه .د ټولو چرتونو فکرونو کار اوزحمت او هیلو نتیجه یوازې او یوازې یوه جوړه کالی شول هو ـ هغه هم شپږ میاشتې وروسته ! ددې ارزوله پاره توتی دادومره شپې سبا کولې . ورځې واوښتې دیخنی کنګلو نه مات شول ورځې وغوړیدې . دتوتی په زړه کښې هم خوشحالی ورځ په ور ځ راژو ندی کیده دنوو جامو او وطن هو س یې کله کله په زړه حمله کوله .اوس هغه ورځې ډیرې نږدې بریښیدې چه توتی د هغه په هیله داد ومره سړې او تو دې په ځان تیرولې .پردیسان ټو ل خپلو خپلو و طنو ته وار په وار کوچیدل یوازې توتی و، د ژوبل مارغه په شان دزیاتو شپو ورځو انتظاریې ایست. تودوخی هم مخ په زیاتید ووه له یوې خوا تو دوخی دتوتی دپا ن په سر ولاړ زړه وار په وارلړ زاوه له بلې خواد تودوخی له امله د نار وغیو شمیر هم ورځ په ور ځ زیاتیده کله وچ ټوخی کله زیړی ، کله نس خوږی او کله و باوار په وار منګولې خښولې. لرې نږد ې خلکوله یوه سره په ګیلو او منتوبیل و کړ نن دلته سبا هلته وبامنګولی ښخولې .بالا خر ه هغه کلی ته چه تو تی په کښې د ژوند ورستی شپې سبا کولې و با راورسیده تر ټولو اول یې په تو تی پنجه کښیښوده

دتوتی غم ځپلی وجود ،سخته بلا او د جومات هغه تود کونج .توتی څو شپې ورځې هلته کرار پاتی شو کوم وخت چه دځان نه یې تمه وشکیده نو په نیولی اواز بی ملا ته زغ کړ. ملا صاحب دا و داسه کو زه په لاس تو تی تهمخا مخ کښیناست «هلکه توتی زه دې څه کولم ؟ »دتوتی په ستر ګو کښې اوښکې ډنډ شوې په ژړغو نی آوازیی وویل :«ماد خپل ځان وصیت له پاره را وغوښتې . که چیرې وخت برابر شو زمونږ د کلی او وطن نه څوك راغلل نو زما دا خبره به زما ګرانې موراو خوږې محبوبی ته رسوې. زه ډك زړه ولاړم.

«هغه څه چه ما غوښتل چه ستاسوله پاره و کړم مادځان سره ارمانی یووړل ماپوره شپږ میاشتې کار او خواری و کړه په دې دومره موده کښې ما بو ه جوړه جامې وګټلې اماهغه هم ماو نه غوستلې داسې پاتې شوې.دا کالی که تاسې ته ور سیږی نوهغه به زما د ژوند وروستی سوغات وی چه تاسې یې زماپه نوم دځان سره ساتیء خوماهیر کړیء اوداسې فکرو کړیء لکه چه زه دې دنیا ته هیڅ نه وم راغلی»

داخبره یې و کړه- سترګې یې پټې کړې اوپه ابدی خوب ویده شو.

(پای)

پته

غازی وات، شمالی برخه، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

دکابل مجلې دتلیفون لمبر (۲۱۲۹۱)

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

دهیواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱ـ کابل ۲۰

۲ـ اطراف ۲۳

دباندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې ګڼې بیه : ۴

دشپږو میاشتو اشتراک هم منل کیږي

دپښتو ټولنې دجاری حساب لمبر په افغانستان بانک

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په اداره کښې هم اخیستل کیږي

KABUL

2 - JAN - 9
Copy _____ 1963

Monthly Journal of the

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy'

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coeditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه